د لوی خدای په نامه

# په افغانستان کې د خبریالانو د امنیت لاربنود

## د افغانستان د خبریالانو مرکز (AFJC)



مينه هغه وخت ليدل کېږي چې يو خبريال له انسانانو سره د مينې، خواخوږي او د هغوی د دردونو او تکليفونو د ښودلو لپاره سختې ګالي او د زړه له کومې هاند او هڅه کوي.

**د کتاب پېژندنه**

د کتاب نوم: په افغانستان کې د خبریالانو د امنیت لارښود

د افغانستان د خبریالانو مرکز ( (AFJC

لیکوال: احمد قریشي

ژباړونکی: هارون هلال

ایډېټور: ؟؟؟؟

د پښتي طرح او ډیزاین: عصمت الله احراري

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ وار: لومړی چاپ، منی، ۱۳۹۸

وېبپاڼه: https://afjc.af

برېښنالیک: afjc.media@gmail.com

د ټېلیفون شمېره: ۰۷۰۸۱۹۸۶۳۴

**د چاپ او خپراوي حق د افغانستان د خبریالانو مرکز سره خوندي دی**

ليکلړ

# پېلامه

په وروستیو دوو لسیزو کې په افغانستان کې د رسنیو وده او پراختیا له هیڅچا پټه نه ده، په هیڅ وخت کې افغانستان په بېلابېلو غږیزو، انځوریزو، چاپي او پر لیکه برخو کې دا ډول رسنۍ تجربه کړې نه دي. په افغانستان کې د نوي نظام له جوړېدو څخه وروسته (۱۳۸۱- ۱۳۹۸ لمریز) د دولتي رسنیو ترڅنګ لسګونه خصوصي رسنۍ جوړې او فعالیت یې پیل کړ، چې د هېواد له قوانینو سره سم له خپلې کاري ازادۍ څخه ګټه پورته کوي.

اوسنۍ شمېرنې ښيي چې په اوس وخت کې له ۲۰۰ څخه زیاتې راډیوګانې، ۷۵ ټلویزیوني شبکې، له ۵۰۰ ډېرې چاپي خپرونې، شاوخوا ۱۵ خبري اژانسونه او لسګونه خبري او تحلیلي وېبپاڼې په هېواد کې فعالیت کوي چې په فعالیت سره یې سلګونو خبریالانو او رسنیزو فعالینو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

په هېواد کې د رسنیو دا وده او پراختیا په ځانګړې توګه د ازادو رسنیو او له بیان ازادۍ څخه د وګړو استفاده چې د هېواد په قوانینو کې په رسمیت پېژندل شوې ده، د لیدو او ستاینې وړ ده؛ مګر پر دې سربېره، د رسنیو دې طلایي دوره کې چې رسنیو کومه بیه پرې کړه، ډېره درنده وه.

د خبریالانو د ملاتړ نړیواله کمېټه وایي چې نړۍ ورځ تر بلې

د خبریالانـو لپاره ګواښـمنه کېږي.

د دې بنسـټ موندنې ښـيي چې هـر کال د نړۍ پـه مختلفو برخو کـې ۳۰ خبریـالان وژل کېـږي او له هرو ۱۰ پېښـو څخه يې د ۹ پېښـو ترسـره کوونکي سـزا نه ګوري.

د یـاد بنسـټ پـه وينا، هـر کال په مختلفـو هېوادونو کې سـلګونه خبریـالان لـه زور زیاتـي او ګواښ سـره مخامخ کېږي چې افغانسـتان پـه دې برخـه کـې یو له مخکښـو هېوادونـو څخه دی.

د افغانسـتان د خبریالانـو مرکـز معلوماتـو پـه اسـاس، لـه ۱۳۸۱ تـر ۱۳۹۸ لمریـز کال پـورې، خبریالانـو سـره تـر زرو زیاتـو د فزیکي تاوتریخوالـي، ګـواښ، فشـار او ډار د پېښـو پـه سـبب د هېـواد پـه مختلفـو سـیمو کـې ۱۱۰ خبریالانو او د رسـنیو کارکوونکـو خپل ژوند له لاسـه ورکـړی دی.

لـه بده مرغـه چې د خبریالانو پـر وړانـدې د تاوتریخوالي، ګواښ او ډار اندېښـمنوونکې لـړۍ نـه دا چـې کمـه شـوې، بلکـې برعکـس ګواښـوونکې کېـږي او پـه وروسـتیو کلونـو کـې د خبریالانـو د هدفي وژنـو لړۍ مخ پـه زیاتېـدو ده.

پـه دې برخـه کـې اندېښـنې یواځـې د پورتـه یـادو شـوو مـواردو پـه هکلـه نـه دي، بلکـې د خبریالانـو پـر وړانـدې د جرمونـو ترسـره کوونکـي له سـزا څخـه د هغـوی معافیـت پر یـوه ناهیلي بخښـونکي کلتـور باندې بدل شـوی دی. د خبریالانو او رسـنیزو بنسټونو د پراخو غوښـتنو لـه املـه یواځې لږ شـمېر قضیو ته رسـیدګي شـوې او عدالت پلي شـوی دی.

د موجـوده خطرونـو پـه پـام کـې نیولـو سـره دا لاربښـود چمتـو شـوی، څـو خبریالانـو سـره مرسـته وکړي چـې پـه مختلفو شـرایطو، لکـه جګـړې، شـخړې، طبیعـي آفتونـو رامنځته کېدلـو او وحشـتناکو پېښـو پر مهـال لـه ځانـه ښـه سـاتنه وکړي.

## د خبریالانو خوندیتوب د لارښود په اړه

دغه لارښود په افغانستان کې د خبریالانو د خوندیتوب او امنیت د لارښوونې په اړه د افغانستان خبریالانو مرکز له لوري برابر شوی دی او په برابرولو کې یې له خبریالانو د ملاتړ نړیوالې کمېټې له تجربو او همدارنګه د افغانستان له یو شمېر تجربه لرونکو خبریالانو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د افغانستان خبریالانو مرکز نادولتي خپلواک بنسټ دی چې په ۱۳۸۹لمریز کال په افغانستان کې له خبریالانو او رسنیو څخه د ملاتړ په خاطر جوړ شو. د دې بنسټ دفتر په کابل کې دی او د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې نمایندګۍ لري.

برگزاری نشست‌ها و همایش‌های مرتبط با آزادی بیان و رسانه‌های آزاد

د خبریالۍ فنون او تخنیکونه زده کول، د بیان ازادۍ او خپلواکو رسنیو پورې د اړوندو غونډو او ناستو جوړول، په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو د حالت په اړه اطلاع رسونه او عدالت غوښتنه، د خبریالانو لپاره کاري او روزنیز فرصتونو خپرول، د خبریالانو او رسنیو د حقوقو لپاره د اړوندو په ځانګړې ډول د عدالت غوښتنه په برخو کې د نړیوالو او په مختلفو هېوادونو کې له سیمه ییزو بنسټونو سره همکاري، د رسنیزو جشنوارو جوړول او په هېواد کې

د غـوره خبریالانو او رسـنیو تقدیـرول د افغانسـتان د خبریالانو مرکز له مهمـو پروګرامونـو څخه دي.

د افغانسـتان خبریالانـو مرکـز پـه اړه د زیاتـو معلوماتـو ترلاسـه کولـو لپـاره د دغـه بسـنټ وېبپاڼـې تـه مراجعـه کـولای شـئ او یـا لـه مونـږ سـره د ایمیـل یـا ټېلیفـون لـه لارې اړیکـه ونیسـئ.

# لومړی څپرکی

# د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د خبریالانو امنیت

## ۱-۱: د خبریالانو د خوندیتوب او د خبریالانو پر وړاندې جرمونو له معافیت سره د مبارزې نړیوال سندونه

**الف) د ژنیو اسنادو ټولګه**

- د ژنیو د کنوانسیونونو (د ۱۳۲۸لمریز کال د زمري ۲۸مه) او الحاقي پروتوکولونو مطابق (د ۱۳۵۶ لمریز کال د غبرګولي ۱۸مه) چې د جګړو پر مهال په انساني قوانینو او اصولو باندې را څرخي، خبریالان په جنګي سیمو کې د کار پر مهال ملکي شمېرل کېږي او د جګړې پر وخت له ملکي حقوقو څخه برخمن کېږي.

په دې اسنادو کې یاده شوې چې ښکېلې خواوې باید خبریالان د برید موخه ونه ګرځوي، مګر په دې شرط چې خبریال له هر ډول پوځي فعالیت څخه ډډه وکړي.

**ب) د ملګرو ملتونو او د هغه تر چتر لاندې سازمانونو پرېکړه لیکونه**

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (د ۱۳۸۵ د مرغومي ۲مه)

پرېکړه لیک (۱۷۳۸): دا د خپل ډول لومړی پرېکړه لیک دی چې له مخې یې په جنګي سیمو کې پر خبریالانو باندې برید غندل شوی دی.

د امنیت شورا غړو پر دې ټینګار سربېره چې «خبریالان، مسلکي کارکوونکي او رسنیز همکاران» باید د ملکي وګړو په توګه خوندي و اوسي، څرګنده کړې چې دا اشخاص او کاري وسایل یې جنګي موخه نه شي ګڼل کېدای.

د ملګرو ملتونو د بشر حقونو (۲۱/ ۱۲) پرېکړه لیک (د ۱۳۹۱ د تلې ۶مه): د بشر حقونو شورا له لوري د خپل ډول دا لومړی پرېکړه لیک دی چې له غړو هېوادونو څخه غواړي چې د قوانینو په تصویبولو، عامه پوهاوي ورکولو، (د خبریالانو لپاره د برابر شوي وضعیت په اړه) څارنې او راپور ورکونې، پر خبریالانو او رسنیو د بریدونو د څېړنې او رسېدنې لپاره د اړتیا وړ سرچینو ځانګړي کولو او د خبریالانو کاري فعالیت لپاره باید داډمن او وړ چاپیریال برابر کړي.

– د ملګرو ملتونو د عمومي ناستې (۶۸/۱۶۳) پرېکړه لیک (د ۱۳۹۲ د لیندۍ ۲۷مه): د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې لومړی پرېکړه لیک دی او موضوع یې د خبریالانو پر وړاندې د ترسره کړو جرمونو څخه معافیت دی. دا پرېکړه لیک له غړو هېوادونو څخه غواړي چې د خبریالانو پر وړاندې د ترسره شوو جرمونو په اړه بې پرې، ګړندي او ګټور ګامونه پورته کړي او د دې جرمونو ترسره کوونکي د قانون منګولو ته وسپاري او عدالت پرېپلی کړي.

– د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا (۲۷/۵) پرېکړه لیک (د ۱۳۹۳ د تلې ۳مه): دا پرېکړه لیک د خبریالانو پر ضد د تاوتریخوالي او بریدونو سره مبارزې لپاره له غړو هېوادونو څخه د زیات تمرکز غوښتنه کوي.

– د ملګـرو ملتونـو د عمومي غونـډې (۶۹/۱۸۵) پرېکړه لیک (د ۱۳۹۴ د زمـري ۱۵مـه): دې پرېکړه لیـک د تاوتریخوالي ټول ډولونه او پـر خبریالانـو هـر ډول بریدونه په ځانګړې توګه شـکنجه کـول، وژل، خپلسـرې او جبري ځـورول، خپلسـرې نیونه، همدارنګـه د خبریالانو کـړول او ډارول غندلـي دي او لـه غـړو هېوادونو یې غوښـتنه کړې چې د دغـه ډول تاوتریخوالـو او جرمونـو مخـه ونیسـي او پـه جـدي توګـه ورته رسـیدګي وکړي.

– د ملګـرو ملتونـو د امنیـت شـورا (۲۲۲۲) پرېکـړه لیـک (د ۱۳۹۴ د غبرګولـي ۶مـه): د جنـګ ټولـې ښـکېلې خـواوې هڅـوي چـې د خبریالانـو او رسـنیو مسـلکي کارکوونکـو حقونـو او مسـلکي خپلواکـۍ تـه درنـاوي وکړي او پـه دغه ډول شـرایطو کـې د خبریالانو پـر وړانـدې ترسـره شـویو جرمونو ته لـه ځېړنې څخـه د ډاډ پـه خاطر ګامونـه پورتـه کړي.

– د ملګـرو ملتونـو د عمومـي غونـډې (۷۰/۱۶۲) پرېکـړه لیـک (د ۱۳۹۴ د لینـدۍ ۲۶مـه): دا پرېکـړه لیـک له غـړو هېوادونو څخه د دې ډاډ غوښـتنه کـوي، کـوم اقدامات چـې له ترهګرۍ سـره د مبارزې او خپـل ملـي امنیـت خوندیتـوب لپاره ترسـره کېـږي، باید لـه نړیوالو معیارونـو سـره سـم او د خبریالانـو د کار پـر وړاندې له خنـډ جوړونې پرتـه او د هغـوی خوندیتـوب په پـام کې ونیول شـي.

– د ملګـرو ملتونـو د بشـري حقونـو شـورا (۳۲/۲) پرېکـړه لیک (د ۱۳۹۵ د تلـې ۱۵مـه): دا پرېکـړه لیـک لـه پخوانیـو پرېکـړه لیکونو څخـه یـو څه نـور هم مخکـې تللـی او پـه کـې د خبریالانـو د امنیت پـه برخـه کـې پـه ځانګـړي توګـه پـه سـیمه ییزه کچـه د خبریالانو د خوندیتـوب لپـاره د عملـي میکانیزمونـو د تنفیذولـو لـه لارې د غـړو هېوادونـو د مکلفیتونـو د اغېزمنـو اجراآتـو غوښـتنه شـوې ده.

– د یونسـکو یـا د ملګـرو ملتونـو د ښـوونیز، علمـي او کلتـوري سـازمان پرېکـړه لیـک (د ۱۳۹۶ د لړم ۱۸مـه): دا پرېکـړه لیک له غړو

هېوادونـو څخـه غـواړي چـې د خبريالانـو خونديتـوب پـه خاطـر د ملګـرو ملتونـو د «عمل پروګرام» چوکاټ کـې د خبريالانو خونديتوب او معافيـت لپـاره ملـي کړنلاره چمتو کـړي او په تېر يـو کال کې د وژل شـويو، تښـتول شـويو، جبـري ځـورول شـويو خبريالانـو، همدارنګه د رسـنيو همکارانـو، صنفـي بنسـټونو او د بشـر حقونـو مدافعانـو خپلسـري نيونـې او ځورولو څخـه څارنه وکړي او د ښـځينه خبريالانو پـر وړانـدې شـته ننګونو تـه ځانګـړې پاملرنـه وکړي.

– د ملګـرو ملتونـو د عمومـي غونـډې (۷۲/۱۷۵) پرېکـړه ليـک (د ۱۳۹۶ د لينـدۍ ۲۸ مـه): دا پرېکـړه ليـک د خبريالانـو پـر وړاندې د جنډر/جنسـيت پـر تاوتريخوالـي تمرکز کـوي. همدارنګـه دا پرېکړه ليـک د ډيجيټـال امنيـت او د انټرنيـټ د قطـع کېـدو له بندولـو څخه د ملاتـړ پـه برخه کـې د غـړو هېوادونـو پـر بياځلي ژمنـې ټينګار کوي او د هغـو قوانينـو د اصـلاح غوښـتونکی دی چـې د ملـي امنيـت او له ترهګـرۍ سـره د مبارزې پـه اړه د ناسـم پوهاوي امکان پـه کې موجود دی او دا چـې داډ ورکـړي چـې د بيـان د ازادۍ حـق نـه محدودوي.

– د ملګـرو ملتونـو د بشـرحقونو شـورا (۳۹/۶) پرېکـړه ليـک (د ۱۳۹۷ د تلـې ۱۳مـه): دا پرېکـړه ليـک پـر خبريالانو د بريـد مخنيوي او د کاري چاپېريـال پـر پيـاوړي کولـو تمرکـز کوي.

## ۲-۱: د کورنيو حقوقو له مخې د خبريالانو امنيت

سـربېره پـردې چـې پـه داخلي کچـه د هېـواد پـه قوانينـو، لکه په اساسـي قانـون او د رسـنيو پـه قانون کـې لـه خبريالانو او ازادو رسـنيو څخـه ملاتـړ موجود دی، خو رسـنۍ او خبريالان د خپل مسـلکي کار د پـر مـخ وړلـو لپـاره د اړيـن امنيـت او خونديتـوب له نشـتوالي څخه شـکايت لـري چـې د تاوتريخوالـي نوملړ ته په کتلو سـره پـه ځانګړې توګـه وروسـتۍ دوه لسـيزې د رسـنيزې ټولنـې لپـاره لـه دردوونکـو او وژونکـو پېښـو څخـه ډکې وې.

دې حالت ته په پام سره، صنفي ټولنې او خبریالان تر پرله پسې عدالت غوښتنو وروسته په دې بریالي شول چې افغان حکومت دې ته وهڅوي څو یاد حالت ته د رسېدګۍ لپاره عملي حل ولټوي، چې په پایله کې یې افغان حکومت او د خبریالانو فدراسیون چې د هېواد له خبریالانو او د رسنیو ملاتړو بنسټونو څخه جوړ شوی دی، د خبریالانو او رسنیو امنیت او خوندیتوب لپاره د یوه میکانیزم په جوړولو سره هوکړې ته ورسېدل او په ۱۳۸۵ لمریز کال کې دا کړنلاره جوړه او تصویب شوه.

د دې کړنلارې په اساس، د حکومت او رسنیو/خبریالانو ګډه کمېټه د خبریالانو او رسنیو د امنیت خوندیتوب په موخه د اړوندو دولتي ارګانونو او کابل کې د خبریالانو فدراسیون په غړیتوب جوړه او وروسته د هېواد په مختلفو ولایتونو کې تري نورې فرعي کمېټې جوړې شوې. په کابل کې د کمېټې ناسته هره میاشت د ولسمشر د دویم مرستیال او په ولایتونو کې د والي د مرستیال په مشرۍ په هرو ۱۵ ورځو کې ترسره کېږي.

همداراز په همدې اساس، په کورنیو چارو وزارت کې د خبریالانو «د امنیت د تامین، اړیکو او همغږۍ مرکز» د «همغږۍ مرکز» د نوم په لنډیز سره او ملي امنیت ریاست کې «د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د ګواښونو پېژندنې او خنثی کولو مرکز» د «ملاتړ مرکز» د نوم په لنډیز سره جوړ شو او دواړه په ولایتونو کې د څانګو لرونکي دي او فعالیت کوي.

د «همغږۍ مرکز» مرکز مسئولیت لري چې په مرکز کې د ملي دفاع وزارت سوق اداري مرکز یا د ملي امنیت عمومي ریاست یا په یادو ولایتونو کې اړوندو څانګو سره د یادو چارو د همغږۍ او د خبریالانو د امنیت لپاره کار وکړي او د ملاتړ مرکز مؤظف دی چې پر خبریالانو او رسنیو باندې امنیتي ګواښونه تشخیص کړي او د کورنیو چارو وزارت د همغږۍ مرکز په مرسته یې له منځه یوسي.

ګډې کمېټې ته چې خپله لومړۍ ناسته یې د ۱۳۸۵ کال د تلې په ۱۱مه ترسره کړه، دنده ورکړل شوې ده چې په وروستیو دوو لسیزو کې پر خبریالانو او رسنیو باندې د بریدونو، ګواښونو، تاوتریخوالي او ډارونې پېښې وڅېړي او اړوندې حکومتي اداري ارې دي چې د کمېټې له پرېکړو سره سم، قضیې تعقیب او رسیدګي ورته وکړي.

د دې کمېټې په میاشتنیو ناستو کې چې د معمول له مخې هره میاشت په کابل کې ترسره کېږي، نوې رامنځته شوې پېښې هم څېړل کېږي او د رسېدنې لپاره د کورنیو چارو وزارت د همغږۍ مرکز او د ملي امنیت ریاست ملاتړ مرکز ته استول کېږي څو رسیدګي ورته وشي.

## دويم څپرکی

# د ځاني خونديتوب لپاره د خبريال لومړني ګامونه

### ۱-۲: لومړنی چمتووالی

په معمولي ډول ژورناليزم په مسلک کې کار پيلول بيا په ځانګړې توګه د جګړو او ناکراريو پر مهال ستونزمن، خو زړورتيا ده.

په دې مسلک کې له استثنا پرته او پرته له دې چې د رسنۍ




ډول او فعاليت ته يې توجه وشي - له خبري او څېړنيزو راپورونو څخه نيولې تر تخصصي راپورنو، وبلاګ جوړونې او انځور

اخیستنې پورې - د چمتووالي لرل د کار پیلېدل دي.

### د کار له پیلېدو وړاندې اړین ټکي:

– د خپل کاري ماموریت او موضوع په اړه یې خبرېږنه.

– د اړینو کاري وسایلو او شیانو اماده کول، لکه د غږ ثبتولو وسیله، کامره، کتابچه او قلم، زري واسکټ او خولۍ، ساتونکې عینکې، د هرې کچې لپاره مناسب او راحته بوټان او (له روښانه رنګونو پرته) د کاري سفر لپاره مناسبې جامې.

– د موټر چلولو جواز او نورو اړینو اسنادو لرل، هغه مهال چې د موټر چلولو اراده لرئ.

– د راپور اړوندې موضوع اصطلاحاتو سره بلدتیا.

– له بېلابېلو اړخونو د بالقوه خبري سرچینو لیکلړ او د سیمې نقشې برابرول.

– سیمې ته د ورتګ او راتګ لارو پېژندل.

– د ماموریت له پیل وړاندې د خپلې روغتیا په اړه داډمن شئ او اړین روغتیایي تدابیر ونیسئ، لکه د خپلې وینې ګروپ معلوم کړئ او که له څه شي سره حساسیت لرئ، معلوم یې کړئ او اسناد یې له ځان سره وساتئ.

– که کار مو نوی پیل کړی وي، خپلو تجربه لرونکو همکارانو سره مشوره وکړئ.

– رسنیو پورې اړوند قوانین په ځانګړې توګه د رسنیو قانون، معلوماتو ته د لاسرسي قانون او د خبریالانو اخلاقي کودونه مطالعه کړئ.

– له هغو مهمو اشخاصو سره چې مرکه ورسره ولرئ، باید په اړه یې پوره معلومات راټول کړئ.

[۱] ازاد خبریال بلال سروري چې په نړیوالو معتبرو رسنیو کې د کار سابقه لري، وایي: «هغو همکارانو ته چې نوی یې په

کار پېل کړی یا له خطر ډکو سیمو کې د کار تجربه نه لري، زما وړاندیز دا دی چې د خپلو ملګرو له تجربو دې ګټه واخلي. مثلاً، کولی شي په مختلفو ولایتونو کې له تجربه لرونکو خبریالانو سره په اړیکه کې شي او له خطر ډکو سیمو په اړه ترې معلومات ترلاسه کړي.»

## ۲-۲: لیرې پرتو سیمو ته سفر:

– د ډاکټر په لارښوونه اړوند درمل او واکسین ترلاسه کړئ. مثلاً، په هغه سیمه کې چې ملاریا په کې خپره شوې ده، ډاکټران به تاسې ته د ملاریا د مخنیوي لپاره د درملو سپارښتنه وکړي.

– د سیمې د حالت، د خلکو کلتور او دودونو او د کار اړوند سیمې ته د تګ او راتګ پر مهال محدودیتونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

– تسهیلاتو، لکه برېښنا، موبایل، انټرنیټ، کمپیوټر، د موبایل چارجر ته لاسرسی پیدا کړئ او هم د سفر نورې مهمې اړتیاوې پوره کړئ.

– د اړتیاو وړ کارېدونکو کاري توکو او وسایلو فهرست جوړ کړئ، لکه د ټلیفون لپاره د پیسو کافي کارت، لاسي څراغ، اضافه بټرۍ (لکه د لاسي څراغ یا د غږ ثبتولو وسیلې لپاره)، د موبایل او کمپیوټر چارجر او نور.

– که د دفتر/شخصي موټر په وسیله د مطلوبې/ د نظر وړ سیمې ته ځئ، ځان ډاډه کړئ چې ستاسې موټر هیڅ ډول تخنیکي ستونزه نه لري، د اړتیا وړ تېل لري، اضافي ټایر او د هغې د جوړونې سامان شته او د ژغورنې کڅوړه (چې د لومړنیو مرستو بسته، کمپله، موسمي جامې، مناسب بوټان، اوبه او پوره خواړه) له ځان سره لرئ.

## ۳-۲: د خطر ارزونه

د شـخړو، وسـله والو او یـا جنګي ډلو جګـړو، سیاسـي ناارامیو، جـرم او جنایت او یـا جنجالونه او ګډوډیو د پوښـښ خطرونه هیڅکله لـه منځـه نه ځـي، خو د کـره پلان جوړوني او سـمې ارزونـې له مخې تـر یـوه بریده د هغـو احتمالي خطرونه راکمولای شـئ.




همیشـه پیـش از رفتـن عزیمـت بـه ماموریـت کاری یـک طـرح ارزیابـی امنیتـی آمـاده کنیـد و آنرا بـه طور مـداوم و بر مبنای شـرایط موجـود مـورد ارزیابـی پیاپی قـرار دهید.

- تـل کاري ماموریـت تـه لـه تـګ وړانـدې د امنیتـي حالـت ارزونـې یـوه طرحه چمتو کـړئ او هغه پـه دوامداره توګـه او د موجوده شـرایطو پـه اسـاس پـه پرلـه پسـې توګـه وارزوئ. مثـلاً روښـانه کړئ چـې سـیمې د تـګ راتـګ مناسـبه لاره کومـه ده: پیـاده او یـا لـه نقلیه وسـیلې سـره؛ نقلیه وسـیله د رسـنۍ لـه نښـان یا پرته له نښـان سـره او د سـیمې لـه کلتـور سـره متناسـبې جامې.
- د خپـل خوندیتوب وسـایلو لـه جملې زرې واسـکټ او خولۍ او بوټانـو تـه بیا کتنـه وکړئ.

– خپلې کورنۍ، همکارانو او دوستانو سره د منظمو ټیلیفوني اړیکو د ساتنې ځرنګوالی مشخص کړئ.
– په سیمه کې د خوراکي توکو، څښاک اوبو او روغتیایي مرستو ته د لاسرسي کچې او ځرنګوالي په اړه ځان پوه کړئ.
– احتمالي خطرونه، لکه په سیمه کې د پام وړ پخوانۍ ستونزې وپیژنئ. داسې پروګرامونه جوړ کړئ چې له خطر نه پرې ځان وساتئ او په سیمه کې له تجربه لرونکو خبریالانو او پوهو اشخاصو سره د پام وړ موضوع او د احتمالي خطرونو په اړه مشوره وکړئ. دا خطرونه ښايي په لاندې ډول وي:
– د جګړې په ډګر کې خطرونه، لکه ډزې، بمباري، ماین او چاودېدونکي توکي.
– د سیاسي موخو او پیسو اخیستلو لپاره اختطاف.
– د خلکو د ګڼې ګونې په سیمه کې پېښېدونکي خطرونه، لکه غلا، ناڅاپه برید او یا بېلا بېل تاوتریخوالی او جنسي تېری.
– له یوه ځانګړي ځای څخه د موټر چلونې او یا پلي مزل څخه پېښېدونکي خطرونه (د موټر چلونې پېښې).
– د طبیعي پېښو خطر، لکه د سېلابونو راوتل، واوره ښوییدنه، غر ښوییدنه او اور لګېدنه.
– روغتیایي خطرونه، لکه په ناروغیو اخته کېدل او یا د ساري ناروغیو انتقال.
– سیمې ته د ورتګ او وتلو لارې د ورکېدو خطر.
– [۲] ازاد خبریال بلال سروري چې په رسنیو، لکه «بي بي سي» کې د کار سابقه لري، وايي: «څو ځل مې قصد وکړ د افغانستان د لویو لارو د امنیتي حالت په اړه راپور جوړ کړم، څنګه چې امنیتي حالت ډېر خرابه و، فکر مې وکړ چې غوره لار دا ده، له هغو کسانو سره چې لویې لارې ښې پېژني او د سیمې له خلکو سره بلد دي، اقدام وکړم. مثلاً، هغه موټرچلوونکي او هغه کسان

چـې د مسـافر وړونکـو موټـرو د اتحاديو مسـئوليت لري. مـا څو ځل لـه همـدې (د سـيمې د خلکـو د جامو اغوسـتلو) له لارې د شـخصي مسـافر وړونکـو موټـرو په واسـطه له کابل نـه کندهار ته سـفر وکړ او د هغـه ځـای له خلکو سـره مـې له نـږدې خبرې وکـړې، امنيتي سـتونزه مـې هـم نـه درلـوده. ځکـه چې دغـو خلکـو له نـورو څخـه وضعيت پـه ښـه ډول ارزولـی و او پوهېـدل چـې په خطري شـرايطو کـې څنګه ځـان خونـدي کړو.»

## ۴-۲: د سفر پرمهال

د تالاشـۍ پـه پوسـتو کـې لـه وسـله والـو ملېشـو سـره تعامـل، خطرنـاک او اټـکل يـې ناشـونی دی. يـو شـمېر خبريـالان د جګـړو سـيمو تـه لـه ورتـګ وروسـته هـدف ګرځول شـوي او وژل شـوي دي. پـه دې برخـه کـې اړينـې لارښـوونې:

– د دې لپـاره چـې د خپـل امنيـت خونديتـوب لپاره سـمه پرېکړه وکـړئ، خپل ځـان ارامـه کړئ.

– تـر هغـه چـې امـکان لـري د شـپې مهـال سـفر کولـو څخـه ډډه وکـړئ؛ ځـو کـه د شـپې لـه سـفر څخه مـو خلاصـون نـه وي، نو خطرونـو تـه پـه پـام سـره پـه احتيـاط موټـر وچلوئ.

– لـه همکارانو، د سـيمې بـاوري امنيتي او سـيمه ييزو مسـئولينو سـره د تالاشـۍ پوسـتو د احتمالـي ځايونو د ټاکلـو لپـاره او د هغوی د اداره کولـو د لارې چـارې پـه اړه مشـوره وکړئ.

– لـه وړانـدې څخه د جګـړې د دواړو اړخونو اجازه ليک ترلاسـه کـړئ، ځـو د هغـوی تـر کنټـرول لاندې سـيمو کـې تګ راتـګ وکړای شئ .

– امنيتي پوسـتو ته له رسـېدو سـره سـم خپل سـرعت کـم کړئ، معلومـه کړئ چې وسـله وال کسـان څوک دي؟ څـه ډول لباس لري؟ او د کـوم عمـر دي؟ کـه چېرتـه شـکمن شـوئ چـې (بلـه ډلـه ده)، په

دېرې ارامۍ سره پرته له دې چې درته متوجه شي، شاته وګرځئ، خو که په واضحه توګه ښکارېدئ، له بېرته ګرځېدو ډډه وکړئ او خپلې لارې ته دوام ورکړئ.

– د نظامي ځواکونو/ملېشو د استفادې وړ ګواښوونکو نښانونو ته پاملرنه وکړئ (لکه لېزرې ځراغونه) او که مو خبرداری ترلاسه کړ، ودرېږئ او د هغوی له امر سره سم عمل وکړئ.

– د پلټنې پرمهال، لمرضد عینکې لرې کړئ او وښیئ چې ستاسې لاسونه خالي او ازاد دي. پرته له وېرې په ارامۍ او صمیمانه چلند وکړئ.

– خپل موټر مه ګل کوئ، تر هغه چې اجازه نه وي شوي، له موټر مه ښکته کېږئ. که یې غوښتل چې پلټنه وکړي، مخالفت مه کوئ.

– که چېرته یې له تاسې څه شی په زور اخیستی او یا پټ کړی وي، اعتراض وکړئ، مګر په بېرته ترلاسه کولو یې ټینګار مه




کوئ. غوښتنه وکړئ چې غواړئ د ډلې له واک لرونکي شخص سره خبرې وکړي.

– که غواړئ له خپل ملګري/ملګرو سره خبرې او یا مشوره

وکړئ، پام مو وي چې کېدای شي مقابل اړخ ستاسې غږ واوري او یا هم په هغې ژبه چې خبرې پرې کوئ، وپوهېږي.

– په نابلده لارو کې د موټر چلولو پر وخت هوښیار او متمرکز اوسئ، باخبره اوسئ چې ښایي د پلټنې پوستې نښې موجودې نه وي.

– له سټلایټ ټېلیفون څخه (یا هر هغه دستګاه چې د راډیویي فریکونسۍ په اساس وي) په یوه ځای کې له یو ځل څخه له زیاتې استفادې ډډه وکړئ او یا د ټېلیفوني اړیکې لپاره داسې ځای غوره کړئ چې په اسانۍ سره وکولای شئ هغه ځای پرېږدئ.

– د ټلیفوني اړیکو موده مو راکمه او لږ تر لږه (درې دقیقو پورې) یې ورسوئ، ګواښ سره د نه مخامخ کېدو لپاره، خپل ټېلیفون بند کړئ او بیټرئ یې وباسئ.

– د خپلو اطلاعاتو او سرچینو د خوندیتوب لپاره د اړیکو فهرست او لېږدول شوي او ترلاسه شوي پیغامونه تل پاک کړئ او تر اړیکې وروسته، سیم کارت مو له موبایل څخه جلا وساتئ.

– که چېرته موخې ته د رسېدو وړاندې د لارې په اوږدو کې دمې او ارام ته مو اړتیا وه، استراحت وکړئ خو د امکان تر حده په




خپلې نقلیه وسیله کې پاتې شئ او دروازې یې قلف کړئ. که څو

کسـان وئ، پـه نوبت سـره خـوب وکړئ.

– زري لبـاس او خولـۍ واغونـدئ او د خبريالـۍ کارت مـو پـه غـاړه کـې واچوئ.

## ۵-۲: د چاودېدونکو توکو او ماين ګواښ:

– کـه چېرتـه مـو پـه خپـل موټـر پـورې پـه مايـن پـورې نښـلول شـوی ليـن (معمـولاً لاس جـوړ ماينونـه) يا کوم مشـکوک شـی وليد، لاس مـه ور وړئ او د «جـي پـي اس» سيسـتم يـا نقشـې څخـه پـه اسـتفادې خپـل موقعيـت معلـوم او امنيتـي ځواکونـو ته خبـر ورکړئ.

– هيڅکلـه هـم لـه خپـل اصلـي خـط سير څخـه مـه اوړئ، د مايـن او چاودېدونکـو توکـو احتمـال جـدي ونيسـئ.

– د جګـړې پـه ډګـر کـې د پاتـې شـوو شـيانو پـه ځانګـړې توګه جنګـي وسـايلو تـه د چاودنـې رامنـځ تـه کېـدو او يـا د ککړېـدو پـه خاطـر لاس مـه ورنـږدې کـوئ.

## کـه پلي روان ياسـت او ناڅاپي ګـورئ چې د ماينونـو په ډګر کې يئ:

– ارام اوسـئ او کـه بـل تـن درسـره ملګـری وي، هغـه تـه هـم ووايـئ چـې حرکـت ونـه کـړي.

– سـاحه پـه غـور سـره وڅېـړئ او وروسـته په ډېـرې ارامۍ سـره قدمونـه پـر پخوانيو پلونو باندې کېښـودو سـره له سـيمې ووځـئ او بيا نـور ملګـري هـم درسـره رهنمايي کـړئ چې سـمه لاره غـوره کړي او شـاته وګرځي.

– احيانـاً کـه چېرتـه مايـن چاودنـه وکـړه، پر خپـل ځـان کنټرول وسـاتئ او بيـا پـه احتيـاط سـره ټپـي شـوي کـس تـه لومړنۍ مرسـتې ورسـوئ او لـه سـيمې څخـه يـې د وېسـتلو پـه اړه فکـر وکړئ.

**که چېرته موټر کې ياست او ماين چاودنه وکړي:**

– کـه پـه موټر ناسـت کسـان بـچ وي، پـه هغه صـورت کې چې لـه شـاوخوا ډزې نـه کېـږي او موټـر ل اهـم حرکـت کـولای شـي، په همغـه لار چـې راغلـي ياسـت، پـه ډېـر دقت سـره شـاته وګرځئ.

– کـه موټـر جـوړ نـه و، هڅـه وکـړئ زيانمـن فرد/افـراد د موټر د شـا لـه لارې څخه پـه ډېرې ارامۍ او احتياط سـره را وباسـئ او د موټر د ټايرونـو پـر لار د پښـو پـه ايښـودلو سـره شـاته وګرځـئ او د خطر له سـيمې څخه لېرې شـئ.

– پـه يـاد ولرئ، هغـو ځايونو کې چـې د غوچوړې نښـه وي او يا رېـګ او نرمـه خـاوره وي، د مايـن د خطر امکان په کې شـته.

## ۶-۲: ډزې

د ډزو خطـر جـدي ونيسـئ، ځکه په اسـانۍ سـره تاسـو تر هدف لاندې نيولی شـي.

– پـه دغـه ډول موقعيتونـو کـې د ګيـر کېـدو پرمهـال پـه غـږ يا د خبريالـي کارت پـه ښـودلو سـره چې په غـاړه کې مـو دی يا پـه خپلو وسـايلو سـره وښـيئ چې خبريال ياسـت.

– پـه هغـه صـورت کې چـې ټپي شـوي يئ، داسـې وښـايئ چې مړ شـوي ياست.

## ۷-۲: د توپ، هاوان او يا راکټ لګېدو خطر

– د ځمکـې پرمـخ اوږده وغځېـږئ او کـه په همدغـه نږدې ځای کـې د ټپـېـدو څه شـی وي، شـاته يـې پټ شـئ ترڅو چې حالت سـم شـوي نـه وي، يـوې او بلـې خواته منډې مـه وهئ.

– کوښـښ وکـړئ خپـل شـاوخوا خلـک ارامـه کـړئ او د اړتيا په وخـت کـې لومړنـۍ روغتيايـي مرسـتې ورتـه ورسـوئ او د خطـر لـه ځايـه يـې لېـرې کړئ.

– د اوسېدو په سیمه کې د نښتې پر مهال په هغه کوټه کې پټ شئ چې د نورو کوټو په منځ کې وي.

### ۲-۸: د کمین خطر:

باید متوجه واوسئ چې دښمنې ډلې وخت په وخت یو بل ته کمینونه نیسي.

– که له داسې یوه حالت سره مخامخ شوئ، هڅه وکړئ شاته وګرځئ او په بېړه د پېښې له ځایه لېرې شئ.

– که شا تګ امکان نه و او یا ناڅاپه په ډزو کې را ګیر شوئ، د موټر له ټایر او یا بل کوم نږدې شي سره پټ شئ، هڅه وکړئ د امکان په صورت کې د نښتې له ځایه په داسې حال کې چې ملا مو کږه کړې وي او یا په کومه بل بڼه ووځئ او امن سیمې ته ځان ورسوئ.

### ۲-۹ د سرې تښتونې خطر:

د خبریالانو پر وړاندې یو لوی ګواښ په ځانګړې توګه د وسله والو نښتو په سیمه کې د یرغمل نیونې خطر دی.

په افغانستان کې د خبریالانو د یرغمل نیونې څو پېښې رامنځته شوې دي چې څو یې د خبریالانو په مړینه هم تمامې شوې دي.

د ۱۳۸۶ کال د وري په ۱۹مه په هلمند کې د طالبانو له لوري د یرغمل شوي افغان خبریال اجمل نقشبندي وژنه او په کندوز کې د ۱۳۸۸ د وږي په ۱۸مه په همدې ولایت کې د برتانیایي ځواکونو د «نجات عملیاتو» کې د یرغمل شوي خبریال سلطان محمد منادي وژنه، په افغانستان کې د خبریالانو د یرغمل کېدو د خطر ښکاره بېلګې او د هغوی برخلیک دی.

**د یرغمل کېدو د احتمال کموالي او د ناسمو پایلو په اړه**

**یې څو سپارښتنې:**

– کـه تاسـې له سـتونزو ډکـې یوې سـیمې تـه داخل شـوئ، باید لـه ذهنـي پلـوه خپـل ځـان ارامـه کـړئ ترڅـو د خپـل امنیـت پـه اړه پرېکـړه وکولای شـئ.

– خطرناکو سیمو ته په ډله ییزه توګه سفر وکړئ.

– ډاډ ترلاسـه کـړئ له هغې رسـنۍ سـره چې کار کوئ مسـئولین یـې او یـا یـو بـاوري سـیمه ییز شـخص د تاسـو لـه پروګرامونـو څخه خبرتیـا لري.

– اړینـې د ټیلیفون شـمارې پـه یاد زده کړئ، که ستاسـې ګرځنده ټیلیفـون ورک شـو او یـا بریـد دربانديې وشـو، چې وکولی شـئ له نورو سـره اړیکه ونیسئ.

– د روښـانه رنګونـو لرونکـو جامـو له اغوسـتلو څخـه ډډه وکړئ ترڅـو د ډزو کوونکـو لـه لـوري د هـدف ګرځونـې ګـواښ مـو را کـم شي .

– لـه یرغمـل نیوونکـو ډلـو سـره د مخامـخ کېـدو او یـا ورکېـدو پرمهـال یـوه احتمالـي طرحـه جـوړه کـړئ، لـه مختلفـو ډلـو او خپلو همکارانـو سـره د اړیکـه نیونـې اطلاعـات تیـار کـړئ.

– پـه هغـه بحثونـو کـې چـې د ماموریـت خطرناکـې سـاحې ته لـه داخلېـدو وړانـدې لـه کورنـۍ یـا ملګـرو سـره لـرئ، دې پایلـې ته ورسـېږئ چـې څومره وخت مـو اړیکه نـه نیونه د خطـر لامل ګرځي.

– لومړنـۍ کار چـې یرغمـل نیوونکـي یـې پـه ډېـر احتمـال سـره ستاسـې تـر یرغمل کېدو وروسـته ترسـره کـوي، انټرنیټ کې ستاسـې د نـوم پلټنـه ده، څـو ستاسـو ځانګړنې ترلاسـه کـړي؛ مثـلا چېرته کار کـوئ؟ زده کـړې او کاري مخینه، ستاسـې شـخصي او صنفـي تړاو او ستاسـې سیاسـي شـالید څـه شـی دی؟ دې اطلاعاتـو تـه د لاسرسـي احتمـال تـه پـه کتـو، خپـل ځـان د سـختو پوښـتنو ځوابولـو تـه چمتو کـړئ .

– هڅه وکړئ یرغمل نیوونکي وغږېږي او ورسره خبرې وکړئ. په دې کار سره تاسو د خپل ځان پر وړاندې د یرغمل نیوونکو ګواښ را کمولی شئ.

– له یرغمل نیوونکو سره همکاري وکړئ، هڅه مه کوئ چې هغوی په غوصه کړئ. کوښښ وکړئ چې په ښه ډول هغوی ته خپل ځان د یوه بې طرفه غیر نظامي څارونکي په توګه او دا چې ستاسې کار د ښکېلو اړخو بې طرفه پوښښ دی. په چټکۍ سره په همدغه ځای کې د امکان تر حده ځان کنټرول کړئ، ځکه ښایي تاسو سره په نږدې راتلونکي کې د خوشې کېدو ژمنه ونه شي او آن په اعدام وګواښل شئ.

– که په ډله ییزه توګه له څو نورو خبریالانو سره یرغمل نیول شوي یاست، باید داسې عمل وکړئ چې یرغمل نیوونکي تاسې جلا نه کړي او یوځای مو وساتي.

– د بند په موده کې له خپلو همکارانو څخه عاطفي او اخلاقي ملاتړ وکړئ او په دې فکر وکړئ چې ستاسو ترمنځ د یووالي شتون د هر یوه د خوشې کېدو چانس زیاتولی شي.

– امکان لري چې د بند پر مهال تاسې ته د تښتېدو چانس پیدا شي، مګر باید ډېر زیات احتیاط وکړئ، ځکه چې له یرغمل نیوونکو څخه د تېښتې چانس ډېر کم دی او باید د هغې پر پایلو فکر وکړئ.

– [۳] د کلید راډیو خبریال حامد کوهستاني وایي: «د ۱۳۸۹ کال په لومړیو کې د څرخي پله زندانیانو د حالت څرنګوالي لپاره مې راپور جوړاوه، زندان ته داخل شوم. سره له دې چې د زندان قومندان دې ته حاضر نه وي چې له زندانیانو سره وګورم، خو ما له عدلیې وزیر څخه حکم اخیستی و او د قانون په اجراء سره مې د پولیسو له فزیکي حضور پرته د زندان په څلورم بلاک کې څو تنو زندانیانو سره مرکه وکړه. په زندان کې مې د نشه یي توکو

د شتون په اړه د زندانيانو تر شکايت وروسته وغوښتل چې دغه حالت د نورو بلاکونو له زندانيانو سره وڅېړم.» هغه زياته کړه: «مګر په دوم بلاک کې له زندانيانو سره چې په غالب ګومان د داخلي امنيت جرايمو په تور نيول شوي وو، د قومندان پر اندېښنې سربېره مې له څو زندانيانو سره مرکه وکړه. له څو دقيقو وروسته را سره د زندانيانو حالت بدل شو، که پوليسو په زيرکۍ سره مداخله نه وای کړې، بنديان زما د يرغمل په هڅه کې و او نړدې و چې پردې کار بريالي هم شي، احتمالاً ځان مې په خطر کې و.»

### ۱۰-۲: ازاد خبريال

که د ازاد خبريال په توګه کار کوئ، لاندې مهم ټکي تاسې ته هم توصيه کېږي:

- د هغو احتمالي ګواښونو په اړه چې ستاسو په وړاندې يې شتون امکان لري، روښانه درک له ځان سره ولرئ.
- له دې څخه چې ستاسې خبري سازمان له ګواښ سره ستاسې د مخامخ کېدو په حالت کې څه وکړي، ځان ډاډمن کړئ.
- له باوري امنيتي اشخاصو څخه مرسته وغواړئ.
- خپلوانو او د رسنيو مسئولينو ته د خپل ځان په اړه د خبر ورکولو يوه دقيقه طرحه چمتو کړئ.
- که مو احساس کړه چې ماموريت مو ډېر خطرناک دی، نو په ردولو کې يې زړه نازړه کېږئ مه.
- په هغه صورت کې چې د يوې نړيوالې رسنۍ سره کار کول منع وي او يا د يوه شخص يا ډلې له لوري چې په راپور کې يې نوم ياد شوی، د زيان پېښېدو خطر وي، په راپور کې ستاسې د نوم يادېدو پايلو ته پاملرنه وکړئ. په دې برخه کې اړوندې رسنۍ سره خپلې غوښتنې په ښکاره شريکې کړئ.
- په پام کې ولرئ چې اړونده داخلي بنسټونه، لکه د افغانستان

د خبریالانو مرکز په هغه صورت کې چې تاسو ته سرخوږی یا ستونزه جوړېږي، کولی شي له اړوندې رسنۍ سره د مسئلې د حل لپاره اقدام وکړي.

## ۲-۱۱: له بهرني خبریال سره د ژباړونکي او همغږي کوونکي په توګه:

- له هغه بهرني خبریال سره چې تاسو ورسره کار کول غواړئ، تجربه او کاري مخینه یې وڅېړئ او د احتمالي ګواښونو پېښېدو په صورت کې د هغه د زغم کچه معلومه کړئ.
- ډاډه شئ چې له کوم کس/ کسانو سره لیدنه لرئ او چېرته ځئ .
- له یوه بهرني خبریال سره (په ځانګړي ډول که هغه د داسې یوه هېواد وي چې دښمن او یا نامطلوب شخص ګڼل کېږي) د راښکاره کېدو په وخت عمومي ذهنونه مطالعه کړئ. ډاډه شئ چې له خطر سره د مخامخ کېدو پر وخت له بهرني خبریال سره د رسنیزو بنسټونو ملاتړ څومره دی؟
- خپل رول روښان کړئ؛ ایا ستاسې دنده یواځې ژباړه کول دي، یا هم د تدارکاتو چمتو کول دي او یا راپور هم برابروئ؟ د راپور چمتو کولو بهیر کې د خپل ځان دخیلولو پر احتمالي پایلو خبر اوسئ.
- د کار له پیل څخه وړاندې له اړوند سازمان څخه باورلیک او یا د خبریالۍ کارت ترلاسه کړئ.

## ۲-۱۲: همکار/مل خبریال ( Embedded Journalist)

مل /همکار خبریال هغه خبریال ته ویل کېږي چې امنیتي ځواکونو سره په یو نظامي/امنیتي ماموریت کې ملګرتیا کوي یا ورسره یوځای وي.

دا اصطلاح لومړی ځل په ۱۳۸۴ لمریز کال کې د امریکا په مشرۍ د عراق په جنګ کې مشهوره او وکارول شوه او نظامیانو سره مل خبریالانو له کوم خنډ پرته اجازه درلوده چې د جنګ لومړۍ کرښې ته ځانګړې لاسرسی ولري چې د جګړې د پراخولي او څرنګوالي غوره انځور وښيي.




**کله چې د ملګري / مل خبریال په توګه کار کوئ، دغه مهم ټکي په نظر کې ولرئ:**

– د یوې نښتې د لیدلو لپاره د یوه مناسب ځای ټاکل به ستاسو له یوه مهمو غوراویو څخه وي چې ښایي ترسره یې کړئ.

– په سیمه کې د فعالو وسله والو ډلو او د هغوی د چلند او رویې په اړه بشپړه څېړنه وکړئ.

– پام مو وي چې د بېلابېلو نظامي ځواکونو، وسله والو ملېشو او یا د ولسي پاځونوالو په منځ کې د دولت ملاتړي هم شته او ښایي د نښتې د ځای شرایط هره شېبه له مخکیني ګواښ پرته بدل شي .

– په یاد ولرئ چې ستاسو برخلیک د یوه خبریال په توګه له هغو نظامي ځواکونو سره چې جګړې ته لېږل کېږي، تړل شوی دی. ښایي تاسې تورن شئ چې له جګړې رالېږونکو راپورونو او

نظرونو کې مو طرف نيولی او اغېزمن شوي يئ.

– تاسو سره بايد دا انديښنه وي چې ښايي له مقابل طرف سره د اړيکو لړلو په تور درباندې بريد وشي او يا ونيول شئ. په افغانستان کې ګڼ شمېر خبريالانو په داسې حالاتو کې خپل ژوند بايللی او يا يې رواني او بدني زيان ليدلی دی.

– د نظامي يونيفورم، خولۍ، بوټمز او يا دې ته ورته يونيفورم پر تن کولو څخه ځان وساتئ، ځکه امکان دې ولري چې مقابل اړخ په تېروتنې سره تاسې د نظامي په توګه موخه وګرځوي. که چېرته اړ وئ چې دا يونيفورم پر تن کړئ، نو خامخا رسنيزې نښې له ځان سره لرئ او په غاړه کې يې واچوئ.

– د يوه همکار/ مل خبريال په توګه بايد پر دې فکر وکړئ چې تاسې څرنګه ښکارئ. امکان دې ولري چې ستاسې کامره او يا د کامرې پايه د وسلې په بڼه ښکاره شي او په نښه شئ.

د وسله والې نښتې د خبري پوښښ پرمهال د شېبه په شېبه راپور اغېز څخه خبر اوسئ. ښايي دا پوښښ به ستاسې مخاطبانو ته په زړه پورې ښکاره شي، مګر په ياد ولرئ چې ستاسو رول د شخړې څارنه او راپور ورکول دي، نه برخه اخيستل، آن که مو غوښتي هم نه وي.

## دریېیم څپرکی

## د ماموریت په ساحه کې

### ۳ـ۱: په غیر عادي چاپېریالونو کې خوراک او څښاک

– که تصفیه کړیو اوبو ته لاسرسی نه وي، اوبه جوش او لږ تر لږه یوه دقیقه یې په دې حالت کې پرېږدئ او وروسته له دې چې سړې شوې، ویې څښئ.

– که د سیمې اوبه ککړې وي، هغه غذا مصرف کړئ چې تازه وي او پوره پخه شوې وي. د مېوې پوستکی لرې کړئ او یا یې په پاکو اوبو ووینځئ. خامه غذا مه خورئ.

– د بدن وینځلو په وخت کې د اوبو له تېرولو ډډه وکړئ او په ککړو اوبو مسواک مه وهئ. په ویالو، کانالونو او ډنډونو کې پر لېږدوونکو ناروغیو د اخته کېدو د احتمال په خاطر له مناسبو او مقاومو بوټانو څخه پرته پر لاره مه ځئ.

– په ګرمه هوا کې په ځانګړې توګه د بدني فعالیت پر مهال، خوړو او مایعاتو ته د مالګې په زیاتولو سره د بدن د اوبو د کمېدو او له ګرمۍ راولاړېدونکو سکتو مخنیوی کېدای شي. نړیوال روغتیایي سازمان توصیه کوي چې په ګرمه هوا کې له ځان سره د څښلو محلول ولرئ. که هغې ته لاسرسی نه لرئ، په یو لېتر پاکو اوبو کې د چایو شپږ کاشوغې بورې او یوې کاشوغې مالګې په

ګډولـو سـره سـره کولی شـو د هغه پـر ځای ترې ګټه واخیسـتل شـي.

– پـه میاشـو لرونکو سـیمو کې له پشـه خانـو څخه ګټـه واخلئ، لسـتوڼي لرونکـي او داسـې جامې چې ټـول بدن پوښـي، واغوندئ.

## ۳ـ۲: له ناپېژاندو چارو څخه په استفادې ځاني امنیت

د مناظـرو، وسـله والـو نښـتو او جګـړې د پوښـښ پـه وخـت کـې بایـد خبریـالان د وسـلې او د دفـاع وسـایلو لـه ورلـو څخـه ډډه وکـړي. د وسـلې او جنګـي سـامانونو ورل، کـه د دفـاع پـه موخـه هم وي، خبریالانـو تـه د بـې طرفـه اشـخاصو پـه عنـوان زیـان رسـوي او احتمـال لـري چې ښـکېلې غاړې خبریـالان تر هدف لاندې ونیسـي. (یادونـه: د وسـلې ورل نـه یواځې د ماموریت په سـاحه کـې، بلکې په ټولـو شـرایطو کـې هـم د خبریـال جایز نـه ګڼـل کېږي)

## ۳ـ۳: د ماموریـت یـا د بېرتـه راتـګ پرمهـال د ګـواښ پـه وړانـدې غبرګـون

ګـواښ نـه یواځـې د خبریالانـو د وېرولـو لپـاره یـو پـلان شـوی تکتیـک دی، بلکـې د دې احتمـال هـم لري چې ورپسـې برید ترسـره شـي. پـه افغانسـتان کـې زیاتـره لیـدل شـوي چـې د خبریالانـو او ځانګـړو رسـنیو پـه وړاندې ګواښ عملي شـوی دی. تاسـو باید ګواښ جـدي ونیسـئ او هغـوی تـه چې په مـرګ یـا فزیکـي تاوتریخوالي يې ګواښـلي یاسـت، ځانګـړې پاملرنـه وکړئ.

سـره لـه دې چـې د ګـواښ پـه وړانـدې د غبرګـون یـوه برخـه د خبریـال د کار او اوسـېدوو د ځـای پـه شـرایطو پـورې اړه لـري، خـو لانـدې ټکـي هـم مهـم دي:

– د رسـنیو مسـئولینو او یـا بـاوري همکارانـو تـه د ګـواښ پـه اړه خبـر ورکړئ. ډاډ ترلاسـه کـړئ چې هغـوی د ګواښ لـه جزئیاتو، لکه د ګـواښ د ماهیـت، څرنګوالـی او پېښـېدو وخـت څخـه باخبره دي.

– پـه هغـه ځای کـې چې فکر کـوئ د قانـون حاکمیت شـته یا د

سیمې مسئولین باوري دي، پولیسو ته د ګواښ په اړه راپور ورکول سم کار دی.

– د رسنیو او حکومت ګډه کمېټه د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب د ټینګښت په برخه کې په مرتب ډول د خبریالانو او رسنیو په وړاندې تاوتریخوالی او ګواښونه څېړي. له مناسبو لارو څخه یوه دا ده چې د خبریالانو او رسنیو فدراسیون غړو خبري بنسټونو ته د خپل ګواښ د قضیې په اړه راپور ورکړئ، دغه بنسټ په مستقیم ډول باندې قضیه هغې کمېټې ته چې په کورن چارو وزارت او ملي امنیت کې د دې مسایلو په اړه جوړه شوې ده، شریکوي تر څو وڅېړل شي او رسیدګي ورته وشي.

– یوه بله لاره دا ده چې خپل د کار او اوسېدو ځای مو په موقت یا دایمي ډول بدل کړئ. له ګڼو قضیو څخه راولاړېدونکو تجربو ښودلې چې د وخت په تېرېدو سره د ګواښ شدت کمېږي.

[۴] د کلید رسنیز ګروپ رئیسه نجیبه ایوبي وایي: «د ۱۳۹۱ د زمري په ۴مه د کلید راډیو یو خبریال چې د ولسي جرګې د دوو وکیلانو د ساتونکو تر منځ په کابل کې یو خصوصي کلینیک کې د وسله والې نښتې راپور جوړ کړی و. له دغو وکیلانو څخه د یوه وکیل د وسله والو له لوري سخت ګواښل شوی و.»

میرمن ایوبي وایي: «د ولسي جرګې دغه استازي له کلید راډیو سره پر جنجال سربېره د راپور جوړوونکي د ورپېژندلو غوښتنه کوله؛ مګر د کلید راډیو مدیریت پر تهدید سربېره دې ته حاضر نه شو چې د خپل خبریال هویت افشا کړي، وروسته یې په ولسي جرګه کې د شکایاتو کمیسیون او بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت د رسنیزو سرغړونو ته د رسیدګي کمیسیون په مرسته یې موضوع حل کړه او اجازه یې ورنه کړه چې د ولسي جرګې دغه وکیل خپل تهدید عملي کړي.»

## ۳ــ۴: د وسله والو نښتو او شخړو پوښښ

په هغو ماموریتونو کې چې د شخړو، وسله والو نښتو او یا جنجالونو په سیمو کې ترسره کېږي، د ساتونکو تجهیزاتو، لکه زرې واسکټ او خولۍ او مناسبو بوټانو څخه د استفادې په اړه فکر وکړئ.

### که وسله والو بریدونو یا نښتو ته پوښښ ورکوئ:

– باید زرې واسکټ د مرمۍ د مخنیوي په خاطر واغوندئ، خو په یاد ولرئ چې هر زرې واسکټ مرمۍ ضد نه دی او امکان لري چې د ځینو وسلو مرمۍ په ځانګړي ډول چې له نږدې واټن څخه وویشل شي، په اسانۍ له زرې واسکټ او خولۍ څخه تېره شي .

– په پام کې ولرئ چې امکان لري مرمۍ او انفجاري مواد ستاسو د بدن هغو ځایونو ته چې حفاظتي زرې پوښښ نه لري، زیان ورسوي. د مرمۍ د فیر او یا د لویو چاودنو په وخت کې په داسې شدت یوه لوري ته ځان وغورځوئ چې بدن یې نور د تحمل توان ونه لري.

– د زرې واسکټ او خولۍ روغوالی په دقت سره وګورئ. اقلاً دویم لاس او یا دا چې له تولید څخه یې زیات وخت تېر



شـوی وي، پـه دې دلیـل چې ښـایي پـه غیـر معیـاري چاپېریالونو کې د سـاتنې پـه خاطـر یـا د اوږدې مـودې په تېرېدو سـره یې زیـان لیدلی وي، بایـد پاملرنـه ورتـه وشـي چـې کـوم خرابوالـی خو نـه لري.

– پـه ښـار او سـیمو کـې پـر تاسیسـاتو او ودانیـو بانـدې د وسـله والـې حملـې یـا ځانمرګي برید په صـورت کې د امنیتـي ځواکونو لکه ملـي پولیسـو، ملي امنیـت، ملي اردو له لـوري په ځـو کمربندونو کې سـیمه په سـرعت سـره تر کلک پوښـښ لاندې نیـول کېږي، په داسـې حالاتـو کـې د پېښـې نـږدې ځـای تـه پـه رسـېدو سـره ډېـر محتـاط و اوسـئ، ځکـه امکان لـري د امنیتي ځواکونـو او یا بېروبار پـه منځ کې ګیـر شـئ او یـا په بلـه چاودنـه کې زیـان ووینـئ. (د هېواد پـه مختلفو سـیمو کـې د ورته پېښـو پـه ترڅ کـې خبریـالان د دویمـې چاودنې او یا نښـتې پـر مهـال وژل شـوي او یا ټپي شـوي دي).

– لـه امنیتـي ځواکونـو سـره چـې پـه ناسـمو حالاتـو کـې دي، صمیمانـه اومؤدبانـه چلند وکړئ. که درته وویل شـول چـې د ژغورنې د عملیاتـو د حساسـیت او د څرنګوالـي د افشـا کېـدو لـه وېـرې یـې اجـازه نـه لـرئ چـې د پېښـې نـږدې ځـای تـه ورشـئ، لـه حـده ډېـر ټینـګار مـه کـوئ. غـوره ده چـې پـه دې حالـت کـې په سـیمه کـې له امنیتـي مسـئولینو او یـا اړونـدو وزارتونـو سـره همغـږي وکـړئ.

### ۵-۳: د طبیعي پېښو پوښښ

طبیعـي پېښـې، لکـه سـېلاب، واوره ښـویېدنه، غـر ښـویېدنه، د ځمکـې حرکـت، زلزلـه، طوفـان او یـا اور لګېدنـه دا ټـول د فاجعـې سـبب کېدلی شـي.

### په دې اړه کې مهم ګامونه:

– د مخابراتـي، حمـل و نقـل وسـایلو یا د برېښـنایي لیکـو له کار لوېدنـې څخـه اټکل وکـړئ. پـه داسـې شـرایطو کـې ښـایي د راپـور ورکولـو یـا اطلاعاتـو خپرولـو توانایـي ونـه لرئ.

– لـه همکارانـو سـره د ټېلیفونـي اړیکـې سـاتلو لپـاره د اضافـي امکاناتـو پیـدا کـول ضـروري دی. د بېلګـې پـه توګـه: تـر هغـه وخته چـې د سـیمې مخابراتـي انتنونـه قطع وي، ښـایي د سـتلایټ یا بیسـم ټېلیفـون (پـه لنډ واټـن کـې) لازم وي.

– ازاد خبریـالان بایـد مخکـې له مخکې له رسـنیو سـره د قرارداد پـه وخـت کـې پـه دغه ډول شـرایطو کـې د خپل ملاتـړ د کچـې په اړه خبـره وکړي.

– د پېښـې ځـای تـه لـه ورتـګ څخـه مخکې یـوه امنیتـي ارزونه وکـړئ. بالقـوه خطرونـه وپېژنـئ او د رسـنیو مسـئولینو او یا نورو سـره د اړیکـو نیولـو د جزئیاتـو څرنګوالـی (لکـه د ټېلیفوني اړیکو شـمېرې او انټرنیټـي اړیکـه) وڅېـړئ او سـیمې تـه د ننوتو او تـرې وتلو لارې په دقـت سـره وپېژنئ.

### ۶-۳: د لاریونونو او ګډوډیو پوښښ

داخلـي سـناریو لـه جرمـي پېښـو او جنایـت څخـه نیولـې تـر ګډوډیـو او مظاهـرو پـورې د نـه وړاندوینـې وړ او خطرنـاک شـرایط رامنـځ تـه کولی شـي. خبریـالان باید لـه جسـمي او قانونـي خطرونو څخـه د ځان سـاتنې پـه خاطر لـه ځانه هوښـیارانه عمل ترسـره کړي:

– لـه محل څخـه د نجـات لارې او بالقوه خطرونه بایـد وپېژنئ، لکـه د بـرق قطع کېدل، ازدحـام، د ګازو خپرېدل او نور سـوځېدونکي مواد وڅېړئ.

– پـه دغـه ډول موقعیتونو کـې د راګېرېدو پر مهال د پېښـې د لیدلو لپـاره بایـد پـه کافي انـدازه صحنې تـه نږدې و اوسـئ، خو پرتـه له دې چـې ځـان او نور پـه خطر کې واچـوئ یا دا چـې د امنیتي یـا ژغورنې عملیاتـو بهیر تـه مزاحمت وکړئ.

– معمولاً د سـیمې مسـئولین د پېښـې د صحنې د ننـداره کوونکو لـه دې ډلـې خبریالانـو د شـاته سـاتنې پـه منظـور لـه یوې مشـخصې فاصلـې سـره یوځـای پـه پام کې نیسـي، ښـایي وغـواړئ او مسـئولین

وهڅوئ د دې لپاره چې واضح يې ووينئ، يو مناسب ځای په نظر کې ونيسي.

– معمولاً په خبرو او کړنو کې مؤدب اوسېدل غوره چلند دی. همدارنګه خبريالان بايد د پېښې د پوښښ په حال کې خپلې اعتبارنامې په واضحه ډول چې ټولو ته ښکاره شي، په غاړه وځړوي.

– د پېښې په ځای کې له هغو اجسامو سره اړيکه چې د جرم بالقوه مدارک شمېرل کېږي، ځان وساتئ او له ځای څخه يې مه باسئ.

– د پېښې شاهدان ښايي وېرېدلي او ځوريدلي وي. د خبريالۍ او رواني زيان مرکز «دارت» په خپلو لارښوونکو ياداښتونو کې ليکي: خبريالان تل د شاهدانو ته د نږدې کېدو په لټه کې دي، خو هغوی بايد په حساسيت سره دغه کار ترسره کړي، لکه دا چې وپوهېږئ چې کله او څنګه دغه کار ترسره کړي.» له هر څه زيات، دغه د قربانيانو غوښتنو ته د احترام په معنا ده چې ايا هغوی مرکې او د خپلو احساساتو ثبتولو ته زړه ښه کوي، په واقعيت کې دغه ډول احترام ښوول ښايي د قربانيانو له خوا خبريالانو ته د لا ډېر لاسرسي د اجازې لامل وګرځي.

– امنيتي ځواکونه او د مرستو او ژغورنې د عملياتو مسئولين ښايي له رواني ستونزو سره مخامخ شي. درک کړئ چې ممکن له قربانيانو يا مسئولينو څخه د پوښتنې کولو لپاره يوائې همدا غوره او يو فرصت نه وي.

– جسمي تيارۍ د هغه موقعيتونو د پوښښ په اړه چې ښايي په ناڅاپي ډول په تاوتريخوالي بدل شي، يوه د پام وړ او مهمه موضوع ده. خبريالان د فزيکي محدوديت په درلودلو سره بايد مخکې له مخکې خطرونه وسنجوي. خپل چاپېريال ته پاملرنه په هر حال کې ضروري ده او دا معمولاً د يوه مناسب ځای پيدا کولو په معنا ده چې تاسو ته هم د معترضانو او هم د امنيتي ځواکونو يا

مسئولینو د مشاهدې اجازه درکوي.

– د تېر وخت د دغه ډول پېښو د پای ته رسېدو د څرنګوالي په اړه په هماغه ورته سیمه کې اطلاعات را ټول کړئ. له وړاندې څخه د وتلو لاره په کاغذ رسمه کړئ او له خبري ټیم سره د کار کولو پر مهال د تاوتریخوالي ډک هر موقعیت په پام کې ولرئ. په داسې حالاتو کې خبریالان د یو بل ساتنه کولی شي.

– کالي باید په پوره پام سره وټاکل شي، ایا دا چې ښه تر سترګو کېږي او که د نورو له رنګونو سره یو رنګ دی. د خبریالۍ نړیوال فدراسیون وایي چې کالي باید ازاد او له طبیعي تیکو څخه جوړ وي، ځکه چې مصنوعي توکي ډېر ژر اور اخلي او سوځي. مناسب، ټینګ او نرم بوټان هم اړین دي چې تلي یې د ښویېدلو وړ نه وي.

– هڅه وکړئ چې ځان له زیانمنېدو وساتئ. خبریال کولای شو په یوه لوبه کې له یوه لوبغاړ سره تشبیه کړو؛ لوبغاړ باید د لوبې دقت کتلو لپاره په کافي اندازه لوبې ته نږدې وي، خو باید هر ډول احتیاطي کړنه په پام کې ولري چې په لوبه کې د دوی دواړو له یو ځای کېدو مخنیوی وکړي. خبریال باید د لاریونونو او نورو خوځښتونو په منځ کې راګیر نه شي او هڅه وکړي د معترضینو د دواړو په مسیر کې حرکت وکړي. معمولاً هغه کسان چې تېره یا نور څه واروي، د معترضینو له منځه دا کار کوي څو وکولای شي په اسانۍ سره بېرته په ډله کې ورک شي.

– دا چې ایا د خپل هویت کارت مو وښیئ که نه، په ځینو حالاتو کې ښایي دا ښه وي چې د نورو خلکو په څېر واوسئ او د خبریالۍ د هویت کارت ونه ښیئ، خو په یوه ترلي جیب کې یې کېږدئ څو د اړتیا پر مهال یې په اسانۍ وکولای شئ وښیئ. د راډیو او ټلویزیون خبریالانو او نورو هغو خبریالانو لپاره چې د پېښو د ثبتولو لپاره وسایل له ځان سره لېږدوي، تر ټولو ښه خبره دا ده چې په غاړه کې له اچولي کارته ګټه واخلي.

– هېڅکله هغه څه مه پورته کوئ چې د لاریون په لوري وار شوي وي. نه یوازې دا چې هغه څېز کېدای شي یو چاودېدونکی توکی یا لاس سوځوونکی څیز وي، بلکې ستاسې دا کار ښایي امنیتي ځواکونو ته فکر ورکړي چې تاسې هم د لاریون یو غړی یاست.

– په پام کې ولرئ چې د یوه لاریون یا ورته پېښې د پوښښ لپاره کوم څیزونه له ځان سره ولرئ. شا ته اچوونکی بکس کېدای شي د اړتیا وړ اضافي توکو د لېږدولو لپاره تر ټولو ښه وي، که څه هم په ډېرو داسې پېښو کې لیدل شوي چې لاریون کوونکي هم له ورته بکسونو ګټه اخلي او دا کار ښایي ستاسې پر وړاندې د خطر کچه لوړه کړي.

– د خبریالانو نړیوال کمیسیون په وینا، د ژېړ او تروش لېمو یا نورو مرکباتو درلودل یو ښه فکر دي. کولای شئ دا مېوه د پوستکي په زیانمن شوي ځای وموښئ چې د کیمیاوي محرکو توکو له خنثی کولو سره مرسته وکړي.

– یوه نمناک دسمال ستاسې مخ له اوښکې بهوونکي ګاز یا کوکتل مولوتف څخه ساتلی شي. د ګاز ضد یو ماسک، د لامبو عینکې یا د سترګو ساتونکې صنعتي عینکې هم یو کس له اوښکې بهوونکي ګاز یا سپرې څخه ساتلی شي. (که فکر کوئ له اوښکې بهوونکي ګاز یا سپرې څخه استفاده کېږي، په سترګه کې د لینز له اینښودلو څخه ډډه وکړئ.) عکاسانو او فلم اخیستونکو ته سپارښتنه کېږي چې د واقعي کارتریجونو یا میموري کارتونو تر څنګ له ځان سره غیر واقعي کارتریج یا میموري هم ولري چې د غوښتنې پر وخت یې سره بدل کړي او ویې سپاري.

– که ونیول شوئ، ارامه اوسئ. که مو تصمیم ونیوه چې د نیوونکي امنیتي سرتېري پر وړاندې غبرګون وښیئ، ښایي د خپل خلاصون په خاطر مودبانه خبرې وکړئ، خو که ستاسې د نیول کېدو لپاره ټینګار کېږي، بیا یې امر ومنئ او قضیې ته د رسېدو

لپاره فرصت ته په تمه شئ.

– د ګاز ماسک چې ډېری وخت د لاریونونو او خپلسرو خوځښتونو د پوښښ لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي، هم د خبریالانو د ساتنې لپاره اړین دی، خو امکان لري پر خبریال د تاوتریخوالي ضد پولیس ګومان وشي او د خبریال لپاره د خطر کچه لوړه کړي.

## ۳-۷: د ساري ناروغیو پوښښ

که غواړئ د ساري ناروغیو خپرېدلو، لکه ملاریا یا وینه لرونکې تبې ناروغۍ ته پوښښ ورکړئ:

– باید د دې کار لپاره له روحي او فزیکي اړخه تیاری او بشپړه روغتیا ولرئ. باید په پام کې ولرئ، په هغه صورت کې چې تاسې د داسې یوې ناروغۍ مخینه ولرئ او ښایي تاسې بیا ځلي وربانديې اخته شئ، د داسې یوه مارموریت له منلو ډډه وکړئ.

– د یوې ساري ناروغۍ په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره چې په یوه سیمه کې په خپرېدو ده، له یوه روغتیایي متخصص سره مشوره وکړئ. توصیه شوې واکسین وکړئ او د اړتیا وړ روغتیایي درمل درسره د ماموریت ځای ته یوسئ چې د یوه متخصص له لوري درکړل شوي وي، ځکه ښایي ستاسې ډېر وخت ووځي او یا د بېلابېلو لاملونو له امله ونه شئ کولای له پلان شوي وخت سره سم بېرته را وګرځئ.

– په یاد ولرئ چې تل خپل روغتیا او ساتنې ته لومړیتوب ورکړئ. هېڅ کاري ماموریت ستاسې د ژوند ارزښت نه لري. په یاد ولرئ چې پر مناسبې روغتیا او واکسین کولو سربېره بیا هم ستاسې د نه ناروغ کېدو هېڅ ضمانت نشته؛ نو باید ډېر احتیاط وکړئ.

– د نړیوال روغتیایي سازمان د سپارښتنې پر بنسټ، خپل لاسونه په ترتیب او له هر شي سره تر احتمالي اړیکې وروسته پاک ومینځئ. په داسې شرایطو کې د بالقوه چټلو خوړو او اوبو

څنبلو څخه ډډه وکړئ. د بدن له مايعاتو، پوستکي، مخاطي غشا او ارونډو کثافاتو سره له هر ډول اړيکې نيولو ډډه وکړئ.

– د خپرې شوې ناروغۍ د لېږد د څرنګوالي په اړه مطالعه وکړئ او بيا تر مخکې په پام کې نيول شوی اقدام وکړئ. د روغتيا نړيوال سازمان د يوې ناروغۍ د خپرېدو اووه لارې ښوولې: د اوبو او خوراک له لارې، لېږدوونکو لکه مياشه، چټل حيوانات، خاورې او جنسي اړيکه يا د بدن له وينې يا مايعاتو سره اړيکه. په پام کې نيول شوې د مخنيوي حل لارې لکه تر پشه‌خانې لاندې ويده کېدل، له جنسي اړيکې ډډه کول، له چټلې هوا لېرې کېدل او د امکان په صورت کې د خلکو له بيروبار او محدودې فضا څخه لېرې‌والی.

* د ځانګړيو، بيولوژيکي، کيمياوي او راډيواکتيو ناروغيو او په دې برخه کې د اړينو اقدامونو په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د روغتيا نړيوال سازمان وېب‌پاڼې (http://www.who.int/ipcs/publication/en/) او يا د امريکا د ناروغۍ مخنيوي مرکز (https://www.cdc.gov) ته مراجعه وکړئ.

### ۳-۸: پر ناورين اخته سيمو ته سفر

– د طبيعي پېښو د پوښښ پر وخت هڅه وکړئ، حداقل د خبريالانو د دوو ټيمونو په توګه چې هر يو يې درې کسيز وي، کار وکړئ چې د اړتيا پر وخت يو له بل سره مرسته وکولای شئ.

– د خپلې اړيکې معلومات د خپلې وينې د ګروپ او الرژي (حساسيت) د ډول په اړه معلومات تيار کړئ او د يوه کلک کارت په چوکاټ (اوبو ضد) کې يې په غاړه کې واچوئ.

– د سرکونو او د سفر نور شرايط وارزوئ او د امکان تر حده يو بل د اقليم له بدلون څخه خبر کړئ.

– د زيانمن شويو کسانو د لېږد مسير بايد د اړتيا پر وخت پر نقشه په نښه شي او خلکو ته ورسول شي. يوې سيمې ته د ننوتلو

تر ټولو ښه لاره ښایي له سیمو د وتلو تر ټولو ښه لاره نه وي. د سفر څوکونې او ممکنه لارې باید تل له مسموموونکو ګازونو نیولې تر ناروغیو پورې پلان شي. طبیعي افتونه ښایي د نورو ستونزو سرچینه شي او د برېښنا، مخابراتي شبکو او انټرنیټ د پرې کېدو لامل شي.

– د ناورین د پوښښ پر وخت ښایي نورې پېښې، لکه چور، غلا یا نور واقعات رامنځته شي، باید د داسې وخت لپاره تیاري ولرئ.

– په طبیعي پېښو زیانمنو شویو لرې پرتو سیمو ته په سفر کې د نورو په څېر د لومړنیو تیاریو درلودل هم اړین دي. د لېږد وسیلې له جوړوالي ډاډ ترلاسه کول، د لېږدوونکې وسیلې د جوړولو وسایل، د ژغورنې سیټ لکه کمپله، ګرځنده کېږدۍ، کالي او د سیمې له وضعیت سره سم بوټونه، لومړنۍ مرستې، ټیلیفون له څو سیمکارتونو سره (له دې امله چې په بېلابېلو سیمو کې د مخابراتي شبکو کار توپیر لري او احیانا د دوی خدمتونه راضي کوونکي نه‌دي)، سټلایټ، د لنډو موجونو یوه راډیویي دستګاه او ځای موندونکې دستګاه (جي پي اس)، د کامرې او غږثبتوونکي لپاره اضافي بټرۍ، د موبایل بټرۍ، چارجوونکې بټرۍ، لاسي څراغ او نور د اړتیا وړ شیان له ځان سره ولرئ.

# څلورم څپرکی

## د ماموریت تر پای ته رسېدو وروسته پایلې

### ۱-۴: امنیتي ګواښ

تـل محتاطـه و اوسـئ او د کار ځای تـه د حرکت په وخت یـا د وتلو پر مهـال یـا په عامـو ځایونو کـې د حملې احتمـال په پام کې ونیسـئ. له کاري سـاعتونو څخـه د وتلـو پر وخت د خطـر احتمال ته پـه پاملرنې سـره لاندې ټکـي په نظر کې ونیسـئ:

– د خوندیتـوب عملـي طریقـې پـه نظر کې ونیسـئ. مثـلاً د تګ او راتـګ لاره بدلـه کړئ.

– خپـل موټـر د خطر زنـګ باندې مجهـزه کړئ او پـه منظم ډول هغـه د مقناطسـي ماینونـو یـا د انفجاري مـوادو د موجودیـت احتمال پـه خاطـر فعالـه کـړئ. خپلـه نقلیـه وسـیله پـه یـو ګـراژ یـا سـرپوښ لرونکـي ځـای کې وسـاتئ.

– په خپل کور کې امنیتي کمره نصب کړئ.

– کـه څـه هم چـې دغه خطـر په افغانسـتان کـې تر اوسـه نه دی پېـښ شـوی، مګر دغـه احتمال هـم په نظر کې ونیسـئ چـې احتمالاً تاسـو تـه لېـږل کېدونکي لیکونـه او خطونه زهـري او یا انفجـاري مواد ولـري. کـه داسـې حالـت سـره مخامـخ شـوئ، بایـد پـه بېـړې سـره

امنيتـي ځواکونـو سـره اړيکه ونيسـئ او مرسـته تـرې وغواړئ.

– د رسـنيو پـه کچه، ورپسـې د ولا يت او کاري حـوزې او په پايله کـې د هېـواد په سـطحه يووالی لـه خطر سـره مخامخ خبريالانـو لپاره ډېـر اغېزمـن او ګټـور غـوراوي وي. خبريـالان بايد دوی تـه د ور پېښ خطـر پـه اړه د معتبـرو داخلي بنسـټونو، لکـه د افغانسـتان د خبريالانو مرکـز تـه په راپـور ورکولو کې شـک ونـه لـري. د افغانسـتان خبريالانو مرکـز د هېـواد د خبريالانـو او رسـنيو د فدراسـيون د غـړي او د ځـو نړيوالـو شـبکو او سـازمانونو، لکـه د ای فکس نړيوالې شـبکې د غړي پـه توګـه کولـی شـي د خطر پر وخـت د فعالـو خبريالانو مشـخصات پـه افغانسـتان کـې مسـئولو بنسـټونو د هغـې لـه جملـې د رسـنيو او حکومـت ګـډې کمېټـې سـره شـريک کـړي. يـا د نړيوالـو بنسـټونو د ملاتـړ ترلاسـه کولـو لـه لارې، مسـئول چارواکـي تـر فشـار لانـدې راولـي ځـو موضوع تـه ځـواب ووايي.

[۵] بـلال سـروري چـې يـو لـه پخوانيـو خبريالانـو څخـه دی، وايـي: «تجربـو ښـودلې ده چـې د خبريالانو ترمنـځ يووالـی ډېر ګټور دی. کـه خبريـالان د سـتونزو او ننګونـو پـر وړانـدې يو غږ شـي، هغه مطـرح کـړي، لـه دولت سـره يـې شـريک کـړي او د حل غوښـتونکي شـي، مطمئنـا چې ښـه پايلـه ورکوي.»

### ۲-۴: رواني فشار او اندېښنه

خبريـال پـه غير عـادي شـرايطو کې تـر رواني فشـار لانـدې وي او ښـايي پـه اندېښـنې او پرېشـانۍ بـدل شـي. اسـترس د يـوه خـاص حالـت (لکـه تهديـد، خطر يا پېښـې) پر وړانـدې غبرګـون دی او هغه مهـال چـې دغـه اندېښـنه ډېـره شـي، نو شـخص پـه اضطـراب باندې اختـه کېـږي چـې پايلـې يـې مثبتـې نـه دي او بايـد درملنه يې وشـي.

– مضطـرب شـخص ممکـن دا ونـه شـي ښـودلی چـې لـه خپل عـادي حالـت څخه وتلـی دی (دغه ډول احسـاس ونه کـړي). د هغو

خبریالانو لپاره چې کار یې د یوې پېښې مشاهده او راپور دی، دا حالت چې پر هغوی باندې هیڅ عملي اقدام نه کېږي، د هغوی پر عاطفي اغېز کوي. هغه خبریالان چې په پرله پسې توګه د




خپلو همکارانو د قرباني کېدلو شاهدان دي، یا د ترخو ترهګریزو پېښو، جګړې، نورو نښتو، د ظالمانه عمل یا د جنسي تجاوز قربانیانو سره مصاحبه کوي، ښایي روحي ضربه چې کارپوهان یې «اغېز لرونکې ضربه» یا «ثانویه» ګڼي، ووینې. د انځور یا ویډیو ایډېټران ښایي پر وحشتناکو پرله پسې تصاویرو کار کولو له امله زیان ووینې.

## ۳-۴: د اندېښنې نښې او د درملنې لارې چارې یې:

د اندېښنې نښې زیاتره شدیدې نه وي:

– یو خبریال ښایي اندېښمن، ځورېدونکی، منزوی کېدونکی، بې حاله، ژر خفه کېدونکی، غمجن یا عصباني معلوم شي او دغه احساسات ممکن په دوامداره توګه وي یا د تغییر په حال کې وي.

– فزیکي نښې یې ښایي په خوب یا غذا خورلو کې اختلال، د زړه چټک ضربان (درزېدل)، خولې کېدل، ځورېدل، د سر درد او همدارنګه د نشه یي تکو مصرف او د سینې درد وي.

– د شـخصي او کاري اړيکـو کمرنګـه کېـدل زياتـره وخـت وي، لکه څنګه چې ښـکاري شـخص په ځان فشـار راوړي او پـه غيرعادي ډول پـر خپـل کار تمرکـز کـوي يا له زيات وسـواس سـره مخامخ وي.

لـه خپـل ځانه مراقبـت د دې لپاره چې پوه شـئ په رواني سـتونزو اختـه يـئ، ښـايي سـخته مرحلـه وي. د دغـو زيانونـو د کموالـي او د حالـت د ښـه والـي لپاره لانـدې ټکو تـه پاملرنـه وکړئ:

– پـه دغـه حالـت کـې اسـترحت او ورزش کـول تـر ټولـو غـوره لاره ده. همدارنګـه پـه داسـې حالاتو کې په زړورتيا سـره خپلـه اړتيا د رسـنۍ مسـئول مدیـر ته بيـان کړئ.

– د اندېښـنې د درملنـې لپـاره له يوه مشـاور سـره خبـرې کول يوه بلـه لاره ده. د «دارت» مرکـز د دغـه ډول حالـت د درملنـې لپـاره يـو کتـاب چاپ کـړی. د زياتو معلوماتـو لپاره کولی شـئ د «دارت» مرکز وېبپاڼې سـره مشـوره وکـړئ. ( https://dartcenter.org)

## ۴-۴: د خبریالانو د کورنیو لپاره احتمالي امنيتي پايلې

ښـايي تاسـو سـره لـه دې نـه زياتـه وېـره چـې د کورنۍ غـړي مو لـه خطـر سـره مخامـخ دي، بلـه نـه وي. له تاسـو يا نـورو افرادو سـره د متخاصـو افـرادو تېـر چلنـد پـه ځانګړي ډول ستاسـو د کورنـۍ لپاره د احتمالـي خطـر د ارزونـې لپـاره يـو لارښـود کېدای شـي. خبريالان ممکن د سـيمه ييزو امنيتـي کارپوهانو، همکارانـو، د خبريالانو مدافع بنسـټونو يـا د نړيوالـې ټولنې اسـتازو مشـورو تـه هم ضـرورت ولري.

### په دې اړه مهم ټکي:

– پـه فيسـبوک يـا نـورو ټولنيـزو رسـنيو کـې د خپـل يـا کورنۍ د شـخصي مطالبـو خارونکي و اوسـئ. هغه کسـان چې ستاسـو د ډارو هـوډ لـرئ، په زيـات احتمـال سـره ستاسـو د وېرولـو لپاره نـه يوازې ستاسـو پـه اړه، بلکـې د کورنـۍ پـه اړه مـو هم پـه انلايـن ډول د خپرو

شـو یو معلوماتـو په لټـه کـې دي. د بېلګې پـه توګه هیڅکلـه خپل یا د کورنـۍ د کـوم غـړي ورځني پلان، سـفر یـا رخصتۍ پـه اړه اطلاعات مه شـریکوئ.

– د خپلـو عکسـونو د نشـرولو یـا د اطلاعاتو د افشـا کېـدو په اړه پـوره پـام وکـړئ، که نـه عمومي به شـي. تاسـو کولای شـئ لـه خپلې کورنـۍ وغـواړئ چـې د اجتماعـي شـبکې له پاڼـې ځینـې اطلاعات لـرې کـړي یا په دې شـبکو کې د خصوصـي حریـم د تنظیماتو امنیت لـوړ کړئ.

– تاسـو ته سپارښـتنه کوو چـې د ناپېژانـدو ټېلیفوني اړیکـو په اړه ډېـر محتاطه و اوسـئ. د ګـواښ پر وخت کې د اړوند رسـنیز سـازمان سـره د مشـورې پـه تـرڅ کې موضـوع د ملـي امنیـت، ملي پولیسـو یا د خبریالانو مدافع بنسـټونو فدراسـیون یا رسـنیو سـره شـریکه کړئ.

– لـه خبریالانـو د ملاتـړ نړیوالـې کمېټـې لـه امنیتـي کارپوهانـو څخـه پـه نقـل قـول ویلـي چـې خپـل حسـاس کاري جزئیـات د کورنـۍ لـه غړو سـره مه شـریکوئ، دلیل یـې دا دی چې کـه د کورنۍ غـړي مـو د څېړنیـز کار پـه جریـان کـې نـه وي، د بریدګـرو د اجباري اطلاعاتـو د ترلاسـه کولـو تر هدف لاندې نـه راځي. په دې سـره اوس هـم ستاسـو د کورنـۍ غـړي ښـایي د دې لپاره چې تاسـو تر ګـواښ یا شـدید وحشـت پـه خاطر ستاسـو د لرې کولو یـا د یو حسـاس راپور د لټـون پـه اړه تر هـدف لاندې راشـي.

– سپارښـتنه دا ده، پـه دې اړه ډاډ ترلاسـه کـړئ چـې ستاسـو کوچنیـان تـر نظر لانـدې دي او څوک ورسـره په ټولـو وختونو کې وي او سـاتنه یـې پـه نظـر کې ونیسـئ.

– تاسـو ښـایي دې تـه مایل وئ چـې خپل ماموریت تـر یوه وخته بـدل کـړئ. د خپلـې کورنـۍ د غـړو د دایمي یـا موقت ځـای پر ځای کولو سـخت تدابیر ونیسـئ.

[۶] د پیـک څېړنیـز مرکـز ارشـد خبریـال روح الله ارمـان وایي:

«د ۱۳۹۷ کال په پسرلي کې مې د معارف د خیالي پروژو په اړه راپور درلود چې د اسنادو پر مټ مې تیار کړی و، له ۱۳۹۰ تر ۹۳ پورې ۲۰ میلیونه ډالره اختلاس شوی و. بریالی شوم د هغه وخت معارف وزیر سره مصاحبه وکړم؛ مګر مخکې تر دې چې راپور نشر کړم، له ناپېژاندو شمېرو زنګ راغی چې زه یې تهدید کړم، ویل یې چې د راپور په خپرېدو سره به بندي شې او دا چې راپور باید نشر نه شي، که نه نو په خپله پایله خو پوهېږې...»

ارمان زیاته کړه: «دغه اړیکه بې نمبره وه، په هماغه لومړۍ ورځ مې موضوع په رسمي شکل د ملي امنیت ریاست او د کورنیو چارو وزارت سره شریکه کړه. امنیتي مسئولینو وعده راکړه چې رسیدګي ورته کوو او سبا یې راته خبر راکړ چې شمېره پېژندل شوې او له دې ادرسه به درته نور تهدید نه کېږي، خپل کار ته ادامه ورکړئ. له نېکه مرغه یو دوه ورځې وروسته مې راپور خپور کړ. بیا هغه تهدیدوونکې اړیکې تکرار نه شوې. که څه هم ملي امنیت د تهدید د څرنګوالي او د شخص پېژندلو په اړه څه ونه ویل؛ مګر دا وښودل شوه چې امنیتي سرچینو سره د همغږۍ او د باور په فضا کې په ښه ډول تهدیدونه او احتمالي خطرونه له ځانه لرې کړو.»

# پنځم څپرکی

## د ډیجیټلي او انلاین فضا امنیت

نن ورځ د اړیکو د ټکنالوژۍ د پرمختګ او په انټرنیټ باندې د اتکا زیاتوالي، په انلاین فضا او ډیجیټلي ژوند کې د کاروونکو امنیت




ځانګړې اهمیت پیدا کړی دی.

د کاروونکو لپاره زیات ګواښونه په کمین کې دي او خبریالان

پـه دې اړه لـه زیـات خطر سـره مخامـخ دي، ځکـه د کار زیاتـه برخه یـې پـه انلایـن ډول ترسـره کېـږي. پـه ډیجیټلـي اړیکـه کـې د پراخې جاسوسـۍ لپـاره د دولـت د طرحـو پـه نظر کـې نیولـو سـره، بایـد لـه خصوصـي حریـم او انلایـن امینـت سـاتنه د خبریالانـو ذهنـي لومړیتـوب وي، ځکـه د معلوماتـو (Data) لـه لاسـه ورکولـو سـره د ځـان ترڅنـګ نـور هـم پـه خطـر کـې واقـع کوي.

د دویچولـه رسـنیز سـازمان د خبریالانـو لـه ښـوونیزې وېبپاڼـې «Poynter» څخـه پـه نقـل قـول، د لانـدې ټکـو سپارښـتنه یې کړې ده:

**۱) د انټرنیټ زیاته برخه غالباً امن نه ده**

زیاتـره پروتوکولونـه چـې پـه انټرنیـټ کـې تـرې ګټـه اخیسـتل کېـږي، د هغـې له جملـې «HTTP» د کـوډ لپـاره، «FTP» د فایل د لېږلـو لپـاره او «SMTP» د ایمیـل رسـولو لپـاره بشـپړ امن نـه دي. په سـاده عبـارت سـره، هغـه راپورونـه چـې د دغـو پروتوکولو په واسـطه لېـږل کېـږي، پـه بالقـوه ډول هـر بـل کـس یـې څارنه کولی شـي.

البتـه دا هغـه ځانګړنـه ده چـې انټرنیـټ یـې د راپور ورکولـو لپاره پـه لویـه شـبکه تبدیلـه کـړې ده. مګـر کـه لـه شـخصي او حساسـو راپورونـو سـره سـرو کار لـرئ، حتمـاً بایـد د دغـو پروتوکولـو لـه امن نسـخې څخـه ګټـه واخلئ، یا لـه هغو سروېسـونو اسـتفاده وکړئ چې دغـه راپورونـه پـرې کـوډ کېږي.

مسـئله دا ده چـې زیاتـره کاروونکـي چـې کلـه ایمیـل لېـږي، یواځـې د ایمیـل ترلاسـه کوونکي په فکر کـې دي. په داسـې حال کې چـې دغـه ایمیل مقصد تـه له رسـېدلو مخکې پـه پاکټـي ډول له ډېرو سـرورونو څخـه تېرېـږي او په هـره نقطه کې پـه شـخصي ډول باندې چـې نـه پوهېـږئ څـوک دي، لیدلـی او ذخیره کولی شـي. هـر څوک چـې دغـو کمپیوټرونـو ته لاسرسـی لـري د دغـه پاکټ له راپـور څخه

خبرېدلی شي. په دې حساب سره فکر مه کوئ چې د یوه ترل شوي پستي پاکټ د لېږلو په حال کې یئ، هغه څه چې د ایمل له لارې لېږل کېږي، د پستال له کارت سره ورته دي چې ممکن ځینې کسان هغه ووینې.

## ۲) کوډ ورکونه (Encryption) کولی شي ډېری ستونزې حل کړي:

له نېکه مرغه انټرنېټ کې اکثره پروتوکولونه امن لري. د امن دا نسخې هماغه کار ترسره کوي، مګر له لېږلو مخکې خپل راپوررونه کوډ کړئ، څو د لېږلو پر وخت کې فقط په همدغه کوډ خلاص شي .

په انټرنېټ کې تر ټولو مهم د امن پروتوکول «HTTPS» دی. دا هماغه پروتوکول دی چې په انټرنېټ کې د حساسو بانکي اطلاعاتو او اعتباري کارتونو د لېږلو لپاره زمینه برابروي. ډېری سروېسونه چې اوس وخت کې دود دي (لکه جي میل، ټویټر، فیسبوک...) هم د «HTTPS» نسخه ارایه کوي.

له دغو سروېسونو څخه د استفادې په وخت کې ډاډه شئ چې د «HTTPS» له نسخې څخه ګټه اخلئ، د HTTPS Everywhere له اپلیکشن څخه کار اخیستل د ټولو لپاره غوره دی چې هم په فایرفاکس او هم د ګوګل کروم کې په سادګۍ سره د لاسرسي ور ده.

## ۳) د ایمیل پاسورډ یا کوډ ستاسو تر ټولو مهم او حیاتي کوډ دی:

ایمیل ستاسو د انټرنېټي ژوند اصلي وجود دی. په هغه صورت کې چې ستاسو د ایمیل (کوډ) د نورو په واک کې وي، هغه فرد په ډېر کم تجسس او پلټنې سره ستاسو د انلاین ژوند ټول

اختیـار ترلاسـه کولـی شـي. دا پـه دې خاطر دی چـې زیاتـره وېبپاڼې او سروېسـونه د کار د سـهولت لپـاره، د ایمیـل لـه لارې د کـوډ د بیا را ژونـدي کولـو یا (ریسـټ) امـکان ورکوي او هغـه امکان کولی شـي د




هېروونکـو لپـاره خطـر هم شـي.

نـو په دې اسـاس تل بایـد پاملرنه وکـړئ چې د خپـل ایمیل لپاره سـخت کـوډ پـه پـام کـې ونیسـئ. د اپلېکشـن لـه لوري تاسـو تـه اته کوډونـه یـا زیـات کوډونه درکـول کېږي چې لـه شـمېرو، حروفو، ورو او لویـو نښـانونو څخه جوړ شـوی وي.

هیڅکلـه هـم پـه کـوډ کـې لـه دود کلمـې څخـه چـې د لغاتـو فرهنـګ کـې هـم راغلـې وي، ګټـه مـه اخلـئ، ځکـه د هکرانـو پـه واسـطه یـې د ماتولـو امکان ډېـر وي. متاسـفانه ځېرنو ښـودلې ده چې د داخلېـدو کمـزوری کـوډ لکـه (۱۲۳۴۵۶) یـاqwerty) ) کوډونـه پـه نـړۍ کـې ډېـر کارېدونکـي کوډونـه دي، نـو د داخلېـدو لپـاره لـه کمـزوري کـوډ څخـه اسـتفاده مـه کـوئ.

### ۴) د مدیریت سافټویرونو لپاره له کوډ څخه کار واخلئ:

د مختلفـو حسـابونو لپـاره د بېلابېـل پاسـوردونو ورکـول، ذهـن

ته د هغو سپارل اسانه کار نه دی. غوره دا دی چې له موجودو سافټویرونو څخه د مدیریت لپاره د داخلېدو کوډ نه ګټه واخلئ، ځکه په هغه صورت کې د مرکزي یوه پاسورډ ذهن ته سپارلو له لارې تاسو خپلو ټولو حسابونو ته لاسرسی پیدا کولی شئ.

دغه کار تاسو سره مرسته کوي چې د کوډ په باره کې له اندېښنو څخه خلاص شئ. د کوډ د مدیریت سافټویرونه ستاسو ټول کوډونه ساتي او له هغې په استفادې په هر ځای کې په اسانۍ سره په اتوماتیک ډول خپل کوډ ترلاسه کولی شئ.

د کوډ مدیریت یو تر ټولو غوره سافټویر «KeePass» دی. وړیا سافټویر (Open Source) اوپن سورس چې د کارېدنې مختلفو سیستمونو کې ښه کار کوي.

## ۵) په برابرو شرایطو کې د متن خلاصولو (Open Source) سافټویرونه ګټور دي:

د (Open Source) سافټویر د امنیت له اړخه پر نورو سافټویرونو غوره دی، که څه هم متاسفانه کم شمېر خلک یې کاروي. دا سیستمونه یو ساده دلیل لري چې هر څوک کولی شي پوه شي چې دا سافټویر څه شی کوي، راپورونه څنګه مدیریت کوي او بالقوه زیانونه یې څه شی دی؟

په داسې حال کې چې په نورو سیستمونو کې هر څوک د زیان په پېژندلو سره په هغه کې د خپل نفو لپاره اقدام کولی شي.

## ۶) امنیتي کمزورتیاوې ممکن په هماغه شېبه یا له څو میاشتو او کلونو وروسته تاسو ته سرخوږی شي.

دیجیټلي اړیکې د ټولو ښېګڼو تر څنګ دغه کمزوري هم لري چې د تل لپاره پاتې کېږي. انټرنیټ هیڅ شی نه هېروي او هر شی له زېرمه کولو وروسته په دغې نړۍ کې همېشه پاتې کېږي؛ نو په

انلایـن فضـا کـې د راپوروونو د ذخیـره کولو پـه وخت کې په یـاد ولرئ چې راپـور تل پاتـې کېږي.

د همـدې لپـاره راپورونو او اړیکو ته کـوډ ورکونه (Encryption) ضروري ده. هر شـی چې تاسـو تـه ځانګړی حساسـیت لري، مخکې لـه لېږلـو څخه یې همېشـه او هر ځای کـوډ کړئ.

## ۷) پـه انټرنیټـي نړۍ کـې ناپېژندونکـی پاتې کېدل هـم زیاتې امنیتي سـتونزې لېـرې کوي:

د معلوماتـو کوډ کـول یواځې د انټرنیټـي خوندیتوب او خصوصي حریـم د سـاتنې لاره نـه ده، بلکـې ناڅرګنـد (Anonymization) پاتـې کېـدل هـم زیاته ګټـه لري. هغـه توکي چې تاسـې تـه د ناڅرګند پاتـې کېـدو امـکان چمتـو کـوي، ستاسـې انټرنیټـي فعالیـت تـه کـوډ نـه ورکـوي، مګـر اړینـه خبـره دا ده چـې نـور بـه دا فعالیتونـه د نورو د لاسرسـي وړ نه وي.

ډېـرې پراکسـي سـرورونه او د هغـې وي پـي ان او د «Tor» وسـایل، تاسـې تـه د مسـتعار یـا ناڅرګنـد پاتې کېـدو زمینـه برابروي. دا وسیلې د مختلفـو لارو او امـن کانالونـو په وسـیله معلومـات لېږي او انټرنیټـي هکرانـو یا جاسوسـانو تـه د کاروونکي شـخص او فعالیت پـه اړه یې معلوماتو ته لاسرسـی ډېـر سـختوي. دا «Anonymouse.org» خدمتونـه تاسـې تـه د مسـتعار (ناڅرګنـد) پاتـې کېـدو زمینـه چمتـو کـوي، پرته لـه دې چې ځانګړي وسـایل یـا ابزار نصـب کړئ. له دې ځایه له دې خدمتونو څخه ګټه پورته کولی شئ.

## ۸) وړیا وایفای کولی شي جدي امنیتي ګواښ شي:

پـه HTTPS سره کولـی شـئ تـر ډېـره پـورې د ډیجیټلـي اړیکو امنیـت زیـات کـړئ، مګـر نـور خطرونـه هـم شته، لـه کـوډ ورکونې څخـه پرتـه پـه عمومـي او خصوصـي ځایونو کې له بې سـیمه شـبکو

څخه استفاده چې هر څوک هغوی ته لاسرسی لرلی شئ، یو له دغو خطرونو څخه دی.

وایفای بیا هم په دې معنا دی چې هر څوک هغه شبکه څارلی شي، حتی هغه اړیکې چې د HTTPS په واسطه ترسره کېږي، هم په اسانۍ سره د هکرانو لاسونو ته ورځي. هکران یا انټرنیټي جاسوسان په اسانۍ سره د ځینو «کوکي ګانو» په واسطه ستاسو شخصي حریم ته ننوتلی شي.

تر کومه ځایه چې کولی شئ، له وړیا وایفای ګانو څخه ځان وساتئ. خطر همېشه په کمین کې دی او امکان لري دغه وړیا استفاده ستاسو د ډیجیټلي ژوند لپاره نه جبرانېدونکی کار وي.

## ۹) له څو مرحله یي کوډونو څخه استفاده د یاد وړ امنیت زیاتولی شي:

د امنیت د زیاتوالي لپاره یوه تر ټولو ښه لاره دا ده چې خپل هویت له یو یا څو متفاوتو تګلارو څخه په یوه انلاین سروېس کې تایید کړئ. یو له هغو څخه ستاسو د داخلېدو کوډ دی او نور کېدای شي ځیني نور کوډونه وي چې د اطمینان لپاره ستاسو ټلیفون ته لېږل کېږي. څنګه چې ستاسو د ټېلیفون هغه شمېره چې نور څوک یې نه لري، هغه ته نفوذ کول ناشوني دي.

اوس وخت کې ډېری سروېسونه لکه ګوګل، فیسبوک، ټویټر، اپل، ډارپ باکس او... د داخلېدو له کوډ څخه ګټه اخیستنه په دوو مرحلو کې کاروونکي ته ورکوي؛ نو که له دې تګلارې څخه استفاده په خپل ژوند کې عادت وګرځوئ، ستاسو لپاره به لا ډاډمنه وي.

## ۱۰) د خوندیتوب په خاطر ایمیلونه او چټونه هم کوډ کړئ:

له بده مرغه چې له HTTPS څخه په استفادې په ایمیل او چټ کې ستاسو پیغامونه نه کوډ (Encrypt) کېږي. په دې اساس، کله چې حساسو راپورونو سره سر وکار لرئ، حتماً یې باید متن کوډ کړئ. البته دغه کار یواځې په هغه صورت کې بشپړ امن کېږي چې د اړیکې مخاطب هم د متن د کوډ لپاره له ورته تګلارې څخه ګټه اخلي.

د ایمیلونو د ساتلو لپاره د کوډ ورکونې له تګلارې «PGP» څخه استفاده کولی شئ او د چټ د کوډ ورکونې لپاره له ځانګړي سافټویر «Pidgin»، همدارنګه د «OTR» سپارښتنه هم کېږي. یاد شیان د «Off The Record» مخفف دي.

**نام:**..............................................................................................

**تخلص:**..........................................................................................

**وظیفه:**.........................................................................................

**گروه خون:** ...................................................................................

**شماره‌ی تماس:**..............................................................................

**ایمیل:**..........................................................................................

**یادداشت:**......................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

**تاریخ:** / / **موضوع:** ......................

**تاریخ:** / / **موضوع:** ......................

........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................
........................................................................................................................

**تاریخ:** / / **موضوع:** ....................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................